# د حسرت اوښکې

(شعري ټولګه)

شاعر
محمد طاهر [illegible]دوست

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه:

..................................

د کتاب نوم: د حسرت اوښکې
شاعر: محمد طاهر قلمدوست

اړيکه: ۰۷۰۸۴۷۰۶۹۸

کمپوز: عبدالوهاب مومند

اړيکه: (۷۴۹۰۴۳۸۳۴) wahabmomand90@gmail.com
خپرندوی: بغلان ادبي بهير

خپرنځی: شمال خپرندويه ټولنه/مزار

چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ کال: ۱۴۰۱ل / ۲۰۲۲ع کال

کچه: رقعي


ددې کتاب د چاپ، پر ويب پاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

ځوريدلي هيوادوالو ته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر اېرو لاندې غمې

هر څوک شاعر دی خو هر څوک شاعري کولی نه شي. شعر پنځه اساسي عناصر لري، چې د هر انسان په وجود کې نغښتي دي، خو هر یو یې د رابرسېرولو جوهر نه لري. هره مرموزه، ښکلې او عاطفه لرونکې وینا؛ چې د فکر، خیال، تصور، آهنګ او د احساس توکي ولري، شعر رامنځته کوي. ځینې شاعران داسې وي چې په شعر کې ښکلا ته ژمن پاتې کېږي او ځینې شاعران بیا په شعر کې فکر پالي، زه بیا د دوی ترمنځ د بېلوالي پوله نه شم رامنځته کولی، ځکه ژوند هم ښکلی دی او هم دې ته اړتیا لري چې انسان یې د ښکلا لپاره پرې فکر وکړي. زه چې اوس د کوم شاعر پر شعرونو غږېږم، د بغلان ولایت داسې مخور شاعر دی، چې پر دوه ملي ژبو شعر وایي او په خپل شعر کې د ښکلا څخه ډېر فکر پالي، خپلې تجربې بیانوي، تر څو زلمکي ځوانان د ژوند سمې لارې ته بدرګه کړي.

شاعري جرئت غواړي او الهام ریاضت ته اړتیا لري، تر څو پالنه یې وشي، همدارنګه ښه شعر هغه وخت ویل کېږي چې قلم را واخلو او د کاغذ سپین ډګر ته را ودانګو، خو که مو وېره پیدا کړه، نو بیا هېڅکله شعر نه شو لیکلی، قدرمن استاد (محمد طاهر قلم دوست) خپل مخاطب ته همدا وایي: چې ته ما له شعر ویلو نه مه ډاروه، زه یې خامخا لیکلی شم او دا چې څنګه به وي؟ بېرته ما پورې اړوندېږي:

اسانه شاعري نه ده چوپ کېنه قلمدوسته
که وشومه د خلکـو د خنــدا په تا یې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلمدوست صاحب يو وخت ما ته يادوونه کړې وه، چې ده تر شپږم ټولګي پورې عصري زده کړې کړي دي، خو له شاعرۍ څخه يې داسې ښکاري چې د خداى تعالى يوه ورکړې ډالۍ ده:

تعليم مې دومره نشته قلمدوسته ګرم نه يم
کله اديبانه غــزل او کله عامـــــيانه کړم

ځينې وخت شاعر د رياضت په پايله کې دومره ښکلي شعرونه وايي، لکه څنګه چې له ګل ګلاب څخه ښکلي عطرونه خېژي او بلبلان ترې راغونډ وي، د همدې رياضت شيبې څخه بيا شاعر دومره خوند اخلي چې مدام ځانګړتيا خوښوي او له خپل ځان سره د دنيا په اړه غږېږي، ما مخکې هم يادوونه وکړه چې قلمدوست صاحب د افغانستان په دوه ملي ژبو عالي شعرونه ليکي، دى خپله وايي:

ما پر ېږدئ له قلم سره تنها يوه شېبه
چې وليکم غمونه د دنيا يوه شـــېبه
***
په پښـــتو او پـــه دري ژبـــه شـــعرونه
قلمدوست غوندې جوړ کړى متون چا دى

د محمد طاهر قلمدوست په شاعري کې مينه، وطن پالنه، پردېسي، د ښځې حجاب، د ځوان لارښوونه او نصايح مضامين ډېر برجسته راټول شوي دي، قلمدوست صاحب وايي: چې پخوا شاعر نه وم، ليکلى مې شول خو د زړه خبره مې ويلې نه شوه، اوس يې چې ويلى شم خو ليکلى نه شم، مانا دا چې د ځوانۍ انرژي ورسره نشته، دا خبره د نورو لپاره درس دى، چې ځواني د خداى تعالى ستر نعمت دى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې ويلی شم، ليکلی نه شم
لاسونه رېـــږدي، ټينګولی نه شم

په فاني دنيا کې د انسان شته والی موقتي دی، مرګ حق دی او هيڅا دا دنيا تل ساتلې نه ده، په دې دنيا کې انسان يواځې يو کرکټر دی او ژوند کول يې لوبه ده، که همدا انسان نن وي او که نه؟ خو لوبه «ژوند» دوام لري او پر ځای يې بل کرکټر «لوبغاړی» راځي، يواځې هغه څه چې موږ په هغه دنيا کې په درد لګېږي، د انسان خپله اعمال دي:

دنيا لکه پياله د ميو ګرځي لاس په لاس
مدام نه وي يو چـــا سره مينا دغسې ده
***
نه کول دنيا پورې خـــواري که پوهېدلی څوک
هسې يقين نشته ده خو کاشکې چې ليدلی څوک

د همدې پورتني وروستي بيت پر مانا صوفي شاعر «عبدالرحمان بابا» هم وايي:

دا دنيا په احـــمقانو ده ودانه
دانا نه کا په دنيا باندې غرض

د ګوتو په شمار قافيوي جوړښت کې قلمدوست صاحب د قافيو ګرامري ترښت خيال نه دی ساتلی، کېدای شي يو لامل يې دا وي چې د نوموړي د دري شاعري اغېز پر پښتو خور شوی وي. لکه: په ۵۴مخ غزل کې «تبۍ» چې ښځينه نوم دی، نو شاعر د نورو قافيو همغږۍ لپاره چې نارينه کلمې دي، دې کلمې ته هم د نارينه کلمې بڼه او تلفظ يې ورکړی دی. همدارنګه ۶۶مخ غزل کې شاعر د ( ګاونډی، نری او پردی) کلمو لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستیو بیتونو کې د (ړلۍ او بتۍ) بڼه د نارینه کلمې (ړلی او بتی) په شکل راوړې دي.

د مخور شاعر (محمد طاهر قلمدوست) د شاعرۍ په اړه ځکه «تر اېرو لاندې غمی» تر سرلیک لاندې وغږېدم، چې غمی تل ارزښتمن وي، ولو چې تر اېرو لاندې هم شي نو بیا یې هم ارزښت خوندي وي او هر یو یې د پلټلو هڅه کوي، چې څنګه تر سترګو شي نو بیا یې هر یو خپل مال ګڼي. ډېر مشهور شاعران دي، چې ښه شاعري کوي او ښه مضامین په خپل شاعري کې رانغاړي، د قلمدوست صاحب  شاعري هم زما پام یې هغه اړخ ته را اړولی دی، چې د ځینو مشهورو شاعرانو په څېر د مضامینو له اړخه د مرام هماهنګي یې یوه ده، یو درد لري او یوه خبره په بېل انداز سره کوي، دروېش روښان وایي:

ښار مې هدیره شــــوه، هدیره تر ښاره لویه شوه
نور به په پردي جنګ کې لا څومره تاوان وکړمه

په همدې موضوع کټ مټ قلمدوست صاحب وایي:

د وطن نیــــمایي خـاوره هدیره شوه
ماشومان مو یتیمان شول ځکه ژاړم

همدارنګه په بل ځای کې بخت الله ربنتین وایي:

اټن کې ټول وو راسره او جنګ کې وتښتېدل
ربنتینه! څه د ایجــــــړاګانو ملګرتیا مو وکړه

قلمدوست صاحب یې بیا په بل طرز داسې وایي:

یاران ورنه چاپېر لکه مچان وو په هستۍ کې
اوس وینمه سوړ شـوی دی بازار د قلمدوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ترخنګ د تعليم ارزښت، واقعي مينه، له بازاري مينې تېښته، خپله شاعر ته لارښوونې، نهيلي، د زړه نازک والی، د سوشل مېډيا منفي اغېزې، د کار ارزښت، د صنايعو اعلا کاروونه، د ښځې غلامي، له ګاونډيو هېوادونو سره سيالي، د وطن مينه، د مور او پلار احترام، د ځوانۍ ارزښت، د همسايه خيال ساتل، د لوږو خرڅول، داسې تعبيروي چې د دوی پلرونه تاجران بولي، همداسې ورته لا ډېرې موضوع ګانې د قلمدوست صاحب په پښتو اشعارو کې رانغښتل شوي دي، زړه مې غواړي چې د قلمدوست صاحب په شاعرۍ لا ډېر وغږېږم او ډېرې سپينې پاڼې پسې تورې کړم، خو د کتاب د سريزې اصول راته اجازه نه راکوي، ګنې په زړه مې ډېرې خبرې پاتې شوې، د ادب لارښوونکو، استادانو او بلبلانو ته بلنه ورکوم، چې د قلمدوست صاحب په شاعري باندې خپل د قلم طبعه وازمايي، ځکه نوموړي شاعر له قلم سره ياري ښه پاللې ده او د زړه خواله يې په آهنګينو لفظونو په شاعرانه انداز کې د ستايلو وړ ده، نورې خبرې به «تر اېرو لاندې غمی» اړوند دوی به کوي، زه باوري يم چې پخوا او وروسته له دې هم هر ادبي مجلس به د قلمدوست صاحب په اشعارو ښکلی ښکاري، نو ځکه وايم:

محبوب د شاعرانو چې ازاد وايي شعرونه
شاعر قلمدوست هم مې رابللی که راځې

په ډېره ادبي مينه
عبدالوهاب مومند
۱۴۰۱/۶/۱۸
بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حسرت پاڼه

د قتيبه ټاټوبی د قيمتي غميو ډک کان دی، د کرکر د ګلونو بهار بې خزانه موسم او د چونغر د بلبلانو ترنم يې د اهونو سترېيا فرهنګ سره له آره نا اشنا دی، د حريت او نصيحت زمزمې يې په طبيعت کې انګازې کوي، ښايي په قره باتور کې توريالیو تاريخ، لکه د چشمه شېر د شنو اوبو روان کاروان همداسې ځلېدونکي خلق شوی وي، نه به يې د محدثينو په ګلبڼ کې د رواياتو کمی راشي او نه به يې دا خاورينه کُره د ورکو اتلانو تاريخي پاڼو د زړښت حسرت وخوري، ته وا دې خاورې ته داسې دعا شوې چې په هره بانډه کې يې ناتوړل شوي غمي پراته دي.

دقيق يوې لسيزې وړاندې د شعر الهام ځپې د کرکر د ګلونو په بڼ کې په محمد طاهر قلمدوست خپلې وزرې وغړولې، هغه يې د مرموز ژونده رابهر کړ، يو پټ غلی احساس چې په سينه کې يې دننه بلېده، هغه لمبه د عشق په داسې رسوايي بدله شوه، چې د حسرت اوښکو پاڼې يې رنګينې کړې.

زه پړ ومه پخوا تر دې چې نه وم مين شوی

کارونه د تقدير و مينتوب مې بهانه شوه

د ژوند مزل سپين ږيري قلمدوست د بدن غړي کمزوري کړل خو د زړه شوق يې ماتوی ونشو، د بدن د غړو درد سربېره قلمدوست له داسې درده کړېږي، چې د احساس اوښکې يې د پاڼو پرمخ ناځي، اوس يې له درده چم خبر شوی، د هغه درد رسوايي د حسرت اوښکې جوړې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونه د ډېر درده ليکل کېږي قلمدوسته
ټول خلک شول خبر ستا په ژړا کلي په کلي

قملدوست د خپل عمر تقريباً اته لسيزې مزل پای ته رسولی، د طبيعت ناخوالو له څو اړخه پوخ کړی، د عمر په وروستيو شپېو کې يې د مينې سودا وکړه او د عشق د ښار سرګردان سوداګر شو، قلمدوست د نصيحت او ښېګنې سودا په خلکو وړيا پلوري.

اوس چې ډوب شوی يم په عشق کې بيا وتلی نشم
ســـزا مـــې دا ده، نا ببـــره دا ســـودا مې وكـــړه

د مينې دا سوداګر د عشق له هتۍ نه صبرېدونکی برېښي، ان چې خپل ځان پورې هم حيران دی، د مينې له سمندره خړوب شوي زړونه د عمر تر پايه مبين پاتې کېږي.

په بوډا توب کې قلمدوسته عاشقي نه ښايي
نو چې تراوسه زه کـــــومه نو بلا مې وکړه

قلمدوست د وخت ارزښت لکه الهي نعمتونه په کره ډول پېژندلی، ژوندانه د وخت او وار کانې په خپل ځای درانه بولي، د هغه تللي حسرت په حسرت کې اوښکې بې مزې ګڼي چې د بخت مزي يې په وخت نه وي تړل شوي، هغه د وخت او وار ارزښت او د مړو فرصتونو پسې د حسرت اوښکې د انسانانو مخته داسې انځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کار په خپله وخت کې ښه کېدای شي قلمدوسته

نو وخـــت د وخته تېــر وو په زارۍ کله کېـــده

قلمدوست د نصحیت انګازي اعلا او ادنا لپاره لکه تلل شوي کاڼي پوخ وزن لري، د راتلونکې پښېمان حسرت خوړونکی غواص ته د طبیعت نامنظم مخ لوڅوي، چې د ژوند د سمندر کړلېچونه یې په ذهن کې سرېښ وي.

دنیا تل برقرار نه وي کله څنګه کله څنګه

تل دا حسن دیار نه وي کله څنګه کله څنګه

قلمدوست د ابادۍ معمار ښه پېژندلی، معلم په توره شپه کې د ټولنې بلېدونکې روښانه ډېوه د هر کاسب د سترګو لید بنسټ ګڼي، لکه د مستو څپو لاندې د سمندر قیمتي تَل، کټ مټ لکه د مېوه لرونکې مېوې ریښه چې دنیا ته یې د ثمر ښاخونه غوړولي دي.

اساس د ابادۍ د هر وطن وي معارف کې

روزلي د معلم ټول ماهران د معارف کې

ټولنه لکه د رنګونو دوکان له بېلابېلو اقشارو جوړه ګډوله ده، د هر رنګ بازار دی، انسان به د هغه رنګ اغېز اخلي چې کوم سره لاس او ګرېوان وي، دغه رنګونه کله د رسوایي حد کې د وفا جامونه ماتوي او کله د محراب له انګړه معصیت خړوبوي، داسې چاپېریال کې د قلمدوست له قوله حیا د معاملاتو له بهیره بهر ګوهر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غله چې کله غلا کړي په تياره کې ورته ورشي
دوســتان او اشـــــنايان بيا په رڼا دې غولوي

د کايناتو مالک د رياضت کلا ته خپل د ښښنې ور پرانيستی دی، د معنويت مشتريانو ته د دې پټ ور رښتينی راز ښه مالوم دی، له دې ښاره د هرې نياز غوښتنه روا ده، لکه په نيمو شپو کې د مالک سره د عابد نيازونه، که د رحمت وزر يې په سر لاس تېر کړ د دارينو شتمن يوازې هم دی وبوله.

کوم شی که دې پکار وي قلمدوسته ورشه واخله
خرڅېـــږي په ارزانه په دوکان د نيـــمې شپــې

د حسرت اوښکو کتاب باندې به علمي بحث د نظر خاوندانو ته پرېږدو، په پای کې محترم استاد محمد طاهر قلمدوست ته د هغه د لومړنۍ پښتو شعري ټولګې (حسرت اوښکې) چاپ مبارکي ورته وايوو، هيله من يوو راتلونکی نسل د دردمن قلمدوست د حسرت اوښکې د قلمدوست صيب د هيلو په زرغون پسرلي سره ور وچې کړي، له لوی رب ج د کرکر ګلونو کاروان همداسې روان او ګړندی غواړو.

په ادبي مينه
بغلان ادبي بهير
عبدالمبين صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمد

اې ربــه تل تـــر تلــه بر قـــــرار ته يې ته
د خپـــل عبـــــاد د حاله خبـــردار ته يې ته

يواځې يې دايم قايـــــم ملـک د ټـول جهان
بې نايـــب او وزيـــر او مســـتشار ته يې ته

تغير او بـــــدلون نه لرې همـېشه بر قـــراره
حی القيــوم د ټـول جهان واکـــدار ته يې ته

صبور يې، هم بصير يې، هم سمـيع او هم بديع
قـــادر يې تـــــوانا او بـــــرد بـــــار ته يې ته

اګـــاه يې په ګناه د بنـــــدګانـــو په هر وخت
پټـــــېږې، نه د تـا نه خـــو ســـــتار ته يې ته

تور مخی قلمدوست او امېدوار دې د رحمت يم
په خپـــل کـــرم مې وبښـــه غفــار تــه يې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعت

بېشکه د ټول انس او جان سردار دی محمد(ص)
په ټـــــولو انبــیاوو علمــــدار دی محمد

اول دی په باطـن پیدا صورت کې اخرین دی
د حضـــرت بابا صــاحب افتــخار دی محمد

شپــه او ورځ ژړل د گنــاهگار امـــت د پاره
امــت د پــاره تېر د مـــور او پلار دی محمد

په روی دده جهــان او کایـنات دي پیدا شوي
الله ته ډېر محبوب او هم رویـــدار دی محمد

زه یمه قلمـــدوست او امتـــي د محــمد یم
شفـــیع د مجـــرمان زما بـــادار دی محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

ربه! ما او زمـــا يار په لاره ســـم کړې
د توفيق او کاميـابي مې هر قـــدم کړې

عمر تېـــر شـــولو په لهو او لعـــب کې
ستا له وېرې دواړه سترګې مې په نم کړې

زه حيران او خوار و زار په زړه زخمي يم
په خپـــل فضـــل پرهـرونه مې ملهم کړې

ګنـــاهـــــونه زمـــا وبښـــــې اې ربـــه!
د قيـــامت د خرخشـــو نه مې بې غم کړې

په محشـــــر کې چې وي لمر د سر له پاسه
د رحمت سيــــوری مې لاندې په کرم کړې

قلمـــــدوست يمـــــه اې ربه ګنـــاهګار يم
په خپل فضـــــل دې مې بچ له جهـــنم کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

حیران یمــــه دوســـــتانو عجیــبه زمـــــانه شوه
ورونــــه شـــول پـــردي او تر مطلبـــه یارانه شوه

دوکــه او فریبـــونه په یــــو بل بانـــدې خرڅېږي
په چل روان دي خلـــک اشـــنایي یې رندانه شوه

زه پړ ومه پخـــــوا تر دې چې نه وم میــــن شوی
کارونه د تقـــدیر و میــــن توب مې بهــــــانه شوه

ناصـــح چـــې نصیـــحت راته کاوه په پټـــه پټــــه
قسمت وګورئ خلکـــو! رسوایي مې هنـــګامه شوه

سهار چې شي د ښځو اجتماع جوړ شـــي بازار کې
دوســــــتانو چا ته وژاړو عجیــــبه مېـــــړانه شوه

وینا دې هېڅ څوک نه اورې چوپ کېنه قلمدوسته!
چې پت غیرت لري، د هغـــــوی تریخه ژوندانه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړگی مې ژاړي لکـــه وريـځ چې په پسرلی وژاړي
لکه ماشوم چې مور يې مړه وي په ځگېروی وژاړي

لکه کوچــــی چې بـــاروي کډه ايلبـــــــند په لورې
يار يې د يار له غمـه ناســـــته په کېــــږدی وژاړي

د يار د غمـــه زه چـــې ژاړمـــه پـــه چېــغو چېغو
لکـــه بنـــــدي په جېـــلخانه په بې وســـی وژاړي

چې کمبخـــــتي ته مې نظـــــر کړمه بيـــــا وژاړمه
لکه حاکـم ته چې محکـــــوم ډېـــر په زاری وژاړي

چې تېـــروي عمـر مستـــی او خنـــــداگانو کې تل
داسې وخت را به شـــي چې ډېره په سختی وژاړي

نو قلمدوســته! ته چې ژاړې بيـــا قلــم خو دې هم
در ســـره ژاړي بيـــا به هـــــم په عـــاجــزی وژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ژمـــی را روان دی په وطــــن کې کار او بار نشـته
پېژنـــــي ډالر خلــک يو بل پـــورې غمخوار نشته

نه سوځــــي په حــــال د بېوسانو د چـــا زړه ولې؟
رحم په مظلوم نشـــــته او هم د خــــــدايه ډار نشته

نه ګوري خپلوي ته چې په لاس کې ورتــه ورشي څه
ورور تـــه د ورور قـــدر روپيــــــو په مقـــدار نشته

څنـــګه زمانه شـــوه د حقـــدارو حـــق پايمال شولو
مشـــر کشـــر نشـــته احتـــرام د مـــور او پلار نشته

څـــومره چـــې خبـرې کـــوي خلک د يـــو بل سره
وي په چـــل روانـــه او رښـــتيا يې په ګفـــتار نشـــته

راشه قلمدوســـته! چې و خـــدای ته عريضـــه وکړو
پـــرته د هغـــه نه بـــل د هېـــڅ چا اقتـــدار نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

هغه کوځې ته چې ورتلم هغه دلدار نشـــته اوس
چې مې لیږلو یار حضور ته ها ریبار نشـــته اوس

په زړه زخمـــي د غـــمازان د لاســـه یمـــه ربه
ته پرې خبر یې څه پرې وشو ها دربار نشته اوس

نن په دنیا کې څه چلېږي ټول دوکه او چـــل دي
چې صداقت پکې خرڅېـــده ها بازار نشـته اوس

چې راسره وو په هر ځـای کې ښه ملګری همېش
چېـــرته به ولټـوم خـــدایه هغه یار نشـــته اوس

د اخلاصمـــــندو ورتـه لیـــکه و زیـــارت د پاره
زمان بدل شو څنـــګه وشـــو ها مزار نشـته اوس

نو قلمـــدوسته عالمـــان خـــو دي هغه عالمـــان
چې په زړه کېني د سـړي هغـــه ګفتار نشته اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځوانیه! ولاړې رانه چېـــــرته به دې بیا لټوم
ورک مې کـــړی یې په کلـــــي په بېدیا لټوم

هغه یاران چې صـادقان وو خدایه چېرته لاړل
یاران خو ډېر دي، مګـــــر زه ها ملګرتیا لټوم

چې راســــره وو خو په قـدر یې زه نه پوهېدم
رانه چــــې تللــي دي ادې او هـــم ابا لټوم

ادې وه څومره مهــــربانه او ابا مې غمـــخور
ورته خوښـــي او خوشحالي اوس په دعــا لټوم

سیند د دنیــا ده د څپــو نه ډکې خیال وســاته
ګوره چې ډوب نه شې چې بیا به دې په چا لټوم

غمجن مه کېږه قلمــــدوسته زه دې یم ملګــری
زه همېـــشه د عزیـــزانو خوشـــحالتیا لټـــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې نازېدمـــــــه پر تا ډېره اشـــتباه مـــې وکړه
چې نالیدلې مې ځان ګڼ کـــــړلو خـــطا مې وکړه

زه وم ساده او د پې، مخـــــو په چل نه پوهېـــدم
په یـــارانه کې په هغـــه ګمـــان د تا مـــې وکړه

اوس چې ډوب شوی یم په عشق کې بیا وتلی نه شم
ســـزا مې دا ده نا ببـــره دا ســـودا مـــې وکـــړه

عهـد مې کــړی و چـــې نوره عاشـــقي نه کـــوم
دا ســـتا ګلرنګ مخ مې چې ولیـــدله بیا مې وکړه

په بـوډا تـــوب کې قلمـــدوسته عاشـــقي نه ښایي
نو چـــې تر اوســـه زه کـــومه بیـــا بـــلا مې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د انســـانانو پـــــه جامـــو کې پړانګان ویـــنمه
انسان په شـــکل وي خویـــونه د حیـــوان وینمه

ګاونډ یې نه لري سوکړک ټـــول ماشومان یې وږي
او د حاجي صاحب په کور هر وخت مهمانان وینمه

حیـــا او شـــرم وکــــړه بار ددې وطـــــن نه لاړه
ټول رواجــونه په وطـــــن کې د غربیـــان وینمه

رانجه په ســـــترګو او نکـــــریزو په لاسـو د کوره
وځـــي بازار ته تـــر ماښــــامه فاســـقان وینمه

اې وطنـــــوالو! افغـــانان خو بې غیـــرته نه وو
دوی باندې څه وشول چې اوس یې بې پتان وینمه

ته غاړه خلاص کړه قلمـــــــدوسته او لیکـــنه وکړه
هغه چـــــې نه قبـــلوي بیـــا یې په ارمـــان وینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خورکۍ

ته مسلمانه یې پټــمنه او دینداره خورکۍ
راځه نور بس کړه چکرونه د بازاره خورکۍ

سیاسره ښه ده چې په کور وي ناسته
د ناریــنه نه یې وي هــره خـواسته

د کوره مه وځه چې نه به وي بېماره خورکۍ
راځه نور بس کړه چکــرونه د بازاره خورکۍ

کوم شی که درته ضرورت پیښېږي
یا کومه بله مصـــــلحت پیښېږي

کوم چې مطلوب به دې وي، وغواړه د پلاره خورکۍ
راځــه نور بــس کړه چکــرونه د بازاره خــورکۍ

شیـــــطان دښمن زموږ د دین دی
ناست په هر ځای کې په کمین دی

لږه خیال ساته کور کې کېنه په قراره خورکۍ
راځه نور بس کړه چکــرونه د بازاره خورکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه په کور کې په پرده وي
ښه په عـــزت او دبـدبـه وي

يو څه پام وکړه اخرت ته دې سرداره خورکۍ
راځه نور بس کړه چکــرونه د بازاره خورکۍ

قلمدوست ستا ديني ورور دی
او ستا له غمـه تل په شور دی

نصيـحت واوره ووېـرېـږه له قهاره خورکۍ
راځه نور بس کړه چکرونه د بازاره خورکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

قلم مې ژاړي لاس مې رېږدي څه ليکلی نه شم
د غم کتاب مې دی پرانيستی خو لوستلی نه شم

د زړه کونجـــونه مې دي ډکې د غـــمونو ځينې
رقيبه ســـتا د لاسه هېـــڅ چا ته ښـــودلی نه شم

غم چې د غـم د پاســـه واچوې ځايېـــږي کله؟
زړه به مې وچـــوي نو څه وکـــړم ساتلی نه شم

ارمان مې پاتې د نګار دی د بوســـې په زړه کې
يارانو ګورئ! حيـــا راشي بيا غوښـــتلی نه شم

هغه جامونه چې مـــې سر کړه مخکې ښه په مزه
ږيره شوه سپينه اوس شرمېـــږمه څښـــلی نه شم

زړګی مې ډک دی د غمـــونو قلمـــــدوسته ياره!
چې خپه کېـــږي پرې اشـــنا ځکه ويلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که مرګي پرېښـودم بهــــار ته بیا غزل لیـــــکمه
ټپې، چار بیته، رباعـــــي ور ســــــره مـــل لیکمه

زه خپله زوړ یم طبیـــعت مې د ځواني په لورې
مخه دې کړې نو مجبـــــور یـم چل او ول لیکمه

مخکې د شعــــــر او شـاعري فکر مې نه وو په سر
اوس چې لیکـــمه د عســـل په ځای حنظل لیکمه

مضمون یې تریخ شي رانه زه پخـپله نه پـــــوهېږم
ګمان مې دا وي چې خـــــواږه لکه عســــــل لیکمه

یمه بېـــــتابه لاس مې رېـــــږدي سپین ږیری یمه
نو ځکــــــه کلــــه به د ځـــــان کله د بل لیـــکمه

زه قلمدوست یم ژوند مې تېر شــــو له قلمـــه سره
څه باک یې نشته چې د غل په ځای کې مل لیکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په لار روان ګوتـــې شمېـــرم، غږېږم ځانه سره
ناکـام د مینــــــې یم، ژړېـــږم د ارمـــانه سره

بېلتـــانه ډېر یمـــه رټلـــــی هوسېـــږم زړه کې
داسې وخـــت را به شي چې ووینـم جـــانانه سره

دومره جفـــا چې پر ما کـــړی ده ګناه مې څه ده
دا زما خواسـت دی چې یې عمر شي خپګانه سره

که ټول عمر په جېلخانه کې تېر شي سخته نه ده
رب خـــو دې مـــه کېنوه یـــو ګړی نادانـــه سره

زه قلمـــــدوست یم څـــــورېدلی د اشــــنا د لاسه
وداع به وکــــــړمه په چېــــــغو د جــــهانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا دور د ژوندون په يوه حال نه پاتې کېږي
ښايست د سپين بشر او د شين خال نه پاتې کېږي

مدام زما زارۍ او د خوبانو حسن نه وي
مغرور مه کېږه ګلې ستا جمال نه پاتې کېږي

دنيا ځای د ازمون دی صداقت وکوه ياره
اوس خلکو سره ښه کړه بيا مجال نه پاتې کېږي

هر څوک که پخپل حق باندې قانع اوسي يارانو
وهل ټکول نه وي بيا جنجال نه پاتې کېږي

ملت که په نفاق اخته شي ګوره قلمدوسته
وطن به شي بر باد بيا استقلال نه پاتې کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

عـادل زمـا د سترګو تور دی
عـادل رڼا زموږ د کور دی

ددې سره مې غم غلط شي
عـادل زمـا د زړه ټکور دی

کور او ماحول پرې ښه ښکاریږي
باغچه د زړه مې پرې سمسور دی

ماشومان ډېر دي خدای دې ډېر کړي
خو هغوی نور دي عـادل نور دی

دعا کوم ورته د اخلاصه
ان شاءالله! رب ته منظور دی

که قلمدوست ورنه خپه شي
بیا خامخا ورته پېغور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډېوه د علم په وطـــن کې فـــروزان کړې ربه
هر يو بچـــي د افغـان ښه ښه عالمــان کړې ربه

علم به څـــه کړې چې عمل دې د اخلاصه نه وي
پخپله علــم بانـــــدې مونږه عامـــلان کړې ربه

نشته ده علم چـــــې د ژبې په نفــاق اخته يوو
تاجک، پښتون، هزاره، ازبــک افغانان کړې ربه

هغه چې دا نفاق جوړ کړی دی زموږ په منځ کې
ته يې زمـــوږ د حـــاله زياته پرېــشان کړې ربه

هر يو وګـــړی د وطـــن دی د افغــــان په نامه
نفاق مو لـرې او ابــاد افغانســـتان کـــړې ربه

قلمدوســـــت وايي زه دعـــا کـوم الله حضور ته
روان په سمـــه لاره ټـول مسلمــــانان کړې ربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګی مې راته وايي، څه! دنيا نه لاس په سر شه
راحــــت ارامي نشـــــته څه مجنون او قلندر شه

يوه ټــــوټه مړی یوه شــــــړی در ســــره واخله
د ډېره بد بيـــــني او د نفـــاق ځيـــــنې بهر شه

پښتون د هـــــزاره دښــــمن، تاجـــک د ازبکانو
ټول لاره د خدای پريښي دي د دوی نه مرور شه

ورور د خپل ورور سره دښـمن ده په يو کـور کې
وځـــه د دوی نه لاړ شـــه مـــجرد لکه قمـــر شه

هغه چې ښه واعظ دی او عمـل يـې د ځان نشته
بيان يې بې تاثـــــير وي صدقه ددې منــــبر شه

رښتيا چې ګـــــوزاره ده داسـې خلکو سره سخته
نور څه کړې قلمــــــدوسته هله ژر شه په سفر شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

الله نه غـــوا ړمه توفیـــق زه د روضـــې د جانان
چې مې داخل کړې یو ځلـــې په دروازې د جانان

د ټول جهـــان چې څه خــــوبان دي د جهانه سره
ټول صـــــدقه شه د روضې د مـــنارې د جـــانان

په خپـــل کـــرم دې ربـــه یو ځـــلي مې ورســـوه
که مې نصیـــب شي چې شم ځـار د مقبرې د جانان

خدایه ور مې وړې چې خاوره یې په مینه ښکل کړم
رانجه په ســـترګو وکړم خـــاورې د لارې د جـانان

اسمان ده جیګه ځمکه ټینګه لاس مې نه رسیـــږي
تویـــوم اوښــکې د هجـــران په فـــوارې د جانان

مشـــرف مې کړه په خپـل کور او د حبیب روضې ته
شفاعـــت وغــواړم په چیـــغو او نـــارې د جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ژوند دې تېر شو دښمني او عداوت کې
څه دې کــړي و تــاوان په اخــوت کې

دنیا ټــول روان په لــور د تـــرقي ده
موږ تر اوسه لا ویـــده یوو په غفلت کې

د جـاپان ســـره ازاد په یـــو نېـــټه یوو
پرمخـــتګ کـړی هغـوی په صداقت کې

واکداران موږ پــه تیـــارو کې وو ساتلي
خپله ډوب وو، پــه چــرچو او عشرت کې

د مامور معــاش د کور خــرچه نه کېږي
ټول جوړ کــړي بلډنګونه په خیانت کې

ټول ککـــړ دي د یو مخـــه په حــرامو
ځکه نه پوښتي هېڅوک په حکومت کې

ډېر غریب یـــوو او بې وسه په نړۍ کې
څه عزت وي قلمـــدوســـته په ذلت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په نړۍ نشته افغـان نه در په در څــوک
هم بې وسه ناتوان خـــوارو ابتـــر څوک

دښمنــي ته وي ولاړ هـــر يو پـــه ټينگه
خوا خوږي ته نه وي يو هـــم بـرابر څوک

هر يـــو غواړي خپــله گټـه، خپله خېټه
نشته هېڅ يو هم په غـــم د بـــرادر څوک

چې د خدای په لاره سيخه او سم روان وي
نه به مومـــي كه وگـــوري لـر او بر څــوک

احتـــــرام د مــور او پـلار نه كــوي ولې؟
خدای! مـه كړه خو هغـــسې بې پدر څوک

عالمـــان ډېـــوه د ديـن دي قلمـــدوسته!
چې عمـــل نه وي ور مه شـه په منبر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بېګاه د يار په غم کـــې خـــوار زړګی مې کړېده
بېلتون کې يې بيـــا ويـــنه د زړګـــــي مې څڅېده

وعــــده يې د ديـــــدن راســـره کـــــړی و د وخته
زړګی مې خوشـــحالۍ نه په بـــدن کــــې نڅېده

شهيـــــد د ستا د ميـــــنې يم که مـــــړ وای لا پخوا
شمـــــعې د اخلاصمــــندو په مـــزار مــــې لګـېده

بېـــګاه مې په خـــوب وليـــده ماڼۍ د غاصبـــــانو
دوی لاندې وو دپــــاسه چـت په چت پرې نړېـده

داسې يو بد حالــت وو چې مې وليده په ستـــــرګو
په ډېـــره بې وســـۍ کـې ډېـــره سخــــته رپېــــده

هر کار په خپله وخت کې ښه کېدای شي قلمدوسته
نــو وخـــت د وخـــته تېــر وو په زارۍ کلـه کېـــده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دنیا وخـــوړل ټـوله ظالمـــان ورک يې که
دولت ده بېکاره نشـــته پرسان ورک يې که

غنم چې وړلو ژرنـدې ته د پلار يې نه و خر
د خوی يې راشه وګـــوره دوران ورک يې که

پوښتـــــنه د سواد نشته پيـــسې پکې چلېږي
ګټـــه ده پـــــکې نه لـــري تاوان ورک يې که

حيران دې حکـــومت ته يمـه ولې نه خبرېږي
تر کومه به دوام وکـــړي دا شـــان ورک يې که

زه سترې ستـــومان شومه د بـــې عدالتــــۍ نه
چا ته به سړی خيرې کړي ګرېـوان ورک يې که

فســـاد د اداري چې وايــــي هســــې ډنډوره ده
د يو مخـه دي خپــــله مفســـــدان ورک يې که

نو ځان ته کوم يو بل مصروفيت غواړه قلمدوسته
چې وينـــــمه دا تـه يې او ګريـــان ورک يـې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

حکـــومت زموږ که لږ څــه با خبر وای
افغانان به ولـــې دومـــره در په در وای

يو لږ څه غونـــدې روزګار که چلېـــدلی
هــره ورځ ولې سلـــهاو په ســـــفر وای

دا ســـــفر ډېـــره اوږده د ســـر پـــه بيه
مجبوري ده کـــه نه کلـه تېـــر د سر وای

خپـــل مرګ په سترګو ويني خو ور درومي
ددې تګ نه خو چې کاشکې کوړ او کر وای

څه بحـــرو ډوب کـــړل، څه وخـــوړل لېوانو
کاشکې نه تـلل او خپل مرګ ته يې نظر وای

ډيپلـــومونه په جېـــبونو کې وراســـته شول
قلمـــدوسته دې نه ښـــه وو چې لـــښر وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ولې به زړه ورکړي چا ته ځان به در په در کړي څوک
وابه خلي غمونه هوسايي نه ځان بهر کړي څوک

ها وختونه نشته چې تا ښه کړه بل به هم کاوه
ولې به لاهو ځان په درياب کې بې ګودر کړي څوک

لږ څه حوصله وکړه الله نه ووېرږه تل
نه دی مناسب چې په خوارانو ځان ببر کړي څوک

زړه د مسلمان د خدای عرش ده چې خپه نه کړې
ولې په ناچيزه دنيا دوست به مرور کړي څوک

هغه ده دنيا د ستا چې وخته اوواغوندې
پرته ددې وي به لېونی چې سر په سر کړي څوک

ګرځو په مستی کې قلمدوسته لا خبر نه يوو
ژوند کې به نه خاندي که نظر په خپل دفتر کړي څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعر ته!

ته یې ددې وطـن د خلـــکو ترجمـــان شاعره
که پوهېدلی یې د ستا ډېپټې ده ګران شـــاعره

ستا وظیـــفه ده چې حـــالاتو نه په هـــره ګړۍ
ولیـــــکې لوړه تنـــده حال د یتـــیمان شاعره

هغه مېـــړونه چـې اســـلام او د وطـن په خاطر
بچیان یې پرېښودل ځانـونه کړل قـــربان شاعره

دا نتیـــجه د شـــهامت ده، د هغـــو ځـــوانانـو
چې په ارامـــه کور کې ولیـــکي رومان شـــاعره

چېرته په خیال کې دې هم ګرځي دا بېوسه خلک
یا چې دې کړی وي په حال د دوی ګـریان شاعره

که ته شـاعر یې په رښتـــیا لیکه حـــالات د وطن
که نه پـــټ وساته په زړه کې دې پنـــهان شاعـره

زه قلمدوســـــت یمه تر اوســـه خو شاعر هم نه یم
لـږ لـږ کـــومه شـــاګردي د ادبیـــان شـــاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دنیـا تـل په قــرار نه وي کلـه ځنــګه کله ځنګه
تل دا حســـن د یار نه وي کلـه ځنــګه کله ځنګه

بلبلان میــــن په ګل دي او په ګلـو یې چغار وي
تل پر ګلو بهـار نه وي کلــه ځنــګه کلــه ځنــګه

ګل چې نه وي په ګلــشن کې بلبلان به کډه وکړي
تل د ګلــو بـازار نه وي کلــه ځنــګه کلـه ځنــګه

نن حاکم سبا محکوم او خپله حال پورې حیران شې
همېــشه اقتــدار نه وي کلــه ځنــګه کله ځنــــګه

دنیاګۍ ده تېرېدونکې غم خــوښي یې مدام نه وي
تـل دا لیـل او نهـار نه وي کلـه ځنــګه کلـه ځنـګه

مـا ویــلې قلمدوســـته تا خــــو نه منــل خبــــره
ابــدي دا بنـــډار نــه وي کله ځنــګه کله ځنـــګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معلم

معلم دی لکه ستوری په اسمان د مـعارف
باغبان دی د ګلــونو په بوستان د معارف

د ګل په ژبـه کله پوهېدلی شي هر څوک
معلم دی په دې فن کې ترجمان د معارف

په خلاصـــه تنده وروزي بچیان ددې وطن
په ده باندې دی لوړ عزت او شان د معارف

معلم په برکـــت ده فیلســوف او حکیـــمان
په وخت د بیماري چې شي درمان د معارف

اساس د ابادي د هـر وطن وي معـارف کې
روزلـي دي معلـم ټـول ماهـران د معـارف

معلم زما د ستـــرګو تور دی یاره قلمـدوسته
معلم دی په بــــدن روح او روان د مــعارف

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نه کول دنیا پورې خـواري که پوهېـــدلی څوک
هسې یقین نشته ده خو کاشکې چې لیدلی څوک

هر یوه ښــخ کړي په لــس هاو عـــزیزانو خپــل
کاشکې د هغو نه یو کس بېرته وای راغلی څــوک

وشو څلوېښت کاله چې اخته د جنګ بلا کې یـــوو
دا ده بدبختي چې عبرت نه دی اخیستلی څــوک

سخته ده عــذاب د اخرت اوس معـــلومېــږي نه
ټوکه ورته ښـکاري د چا حق به نه خوړلی څــوک

راشـــئ وجـدانونه قاضـیان کړو په رښتـــیا سـره
څومـــره بـرابـره په احــکامو چلېــدلی څــوک

ګوره قلمدوسته ژوند دې تېر کړه په غفلــت ولې؟
وبـه ژاړي هلتـــه چې وي دلته خندېدلـی څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

يارانو وګـــورئ دا څـــرنګه ژونـــدون دی زموږ
ورور د ورور او پلار د زويه چــې بېلتون دی زموږ

د اســـلام لاره مــو پــرې ايښې، يـــوو په بله روان
وجه يې دا ده چې په ژوند کې دا بدلون دی زموږ

پخوا کافر وو پـــه هر ځــای کې د اســـلام غلامان
شـــولو بې پتــه چې د دين نه اوښتـــون دی زموږ

ټوله شپه ناســـت يوو تلـــوېزيون ته سريالونه ګورو
لمانځه ته نه کېـــږو وزګار دغه مضـــمون دی زموږ

د لمانځه فـــرض او واجبـــاتو بانـــدې نه يوو خبر
د شاه رخ خان او بارو خـــان نه پېژندون دی زموږ

نو قلمدوســـــته چې د خـــدای په لاره سم ونه شو
ورځ په ورځ دا ډوبېـــده لکه قـــارون دی زمـــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وطن د مـور بچـی یم وفـادار یـمه هر کله
د ژبـې د نفـاقه زه بېـزار یـمه هـر کـله

څه خلک چې اوسېږي په دې خاوره کې افغان دي
هـر یـو زمـا ورور دی په اقـرار یمه هـر کله

اوربـوز مې د انگـرېز وختـه په خاورو سولولی
اوس هـم همـاغه یـمه او بیـدار یمـه هر کله

شیدې د غیرتي مـور مې رودلـي په زانـگو کې
حامـي یـم ددې خاوره پیـره دار یمه هـر کله

غلیم ددې وطـن د تسخیر خوب ویني په خیال کې
ارمان به گـور ته یوسـي زه هوښیار یمه هر کله

دوست وایي قلمدوسته خـو گاونډ زمونږ دښمن دی
ددې دښمـن لستـونو کـې زه مار یمه هر کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

غمونه چې دې زور شـــي په اشــعار يې لګوه
خاطر دې اســوده کـړه په دلــدار يې لګـوه

دستور ده، خلک غم شريک کوي سره د دوست
د زړه نه يـــې وباســـه په غمخـــوار يې لګـــوه

ببړه د شيطان کـار ده چې رسېـړي نه مزل ته
هر کار چې دې پـه مــخ وي په قـرار يې لګوه

که کـــومه صـــدقه خيـرات دې ووځي د لاسه
د هر چـا انـــدازه وي په حقـــدار يې لګـــوه

نيکي به دې په کار شي، د بېـوزلو سره ښه کړه
بـدي نه لاس پـه ســر شـه په کنـــار يې لګوه

تر څو چې په دنيا کې ته ژوندی يې قلمدوسته
چې ښه دې شـي د لاسـه په بـار بـار يې لګـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وبه رېبې اخر هغــه څـــه چې دې کرلـــی وي
هضم به يې وکړې هغه څـه چې دې خوړلـی وي

بې بدله هېڅ شـــی پاتې کېـــږي نه خبـر اوسه
وبه شي در پېښ چه به په چا باندې دې کړی وي

نه دی مناســب په مصيبت د چا خوښـــــی کول
وبه ژاړې ګـــوره چې په چـــا به خنـــدېدلی وي

حق چې د چا وخــوري د مقـــام او د پيسو په زور
داسې وخت به راشي چې ګرېوان به يې څيرلی وي

دلتـــه افغـــانان دي تعـــرض په هېـــڅ چا مـه کوه
وخـــت چې برابر شـــي نو ظـالم يې ښـــه رټلی وي

ځه په لاره سمه قلمـــــــــــدوسته کږه مـــه درومه
ژر مــــــزل رســـي چې په ســـمه لاره تللـــی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

ډېر مې ده کـړې بیا گناه نه کوم
نوره د ځان سـره جــــفا نه کوم

نمایشي ډېر عبــــادت مــې وکړه
بیا عبادت به پـه ریــا نه کـــوم

ډېره مې وکړه دوکـه خلـــکو سره
دوکه او چل بیا په هېڅ چا نه کوم

نفس مې تر اوسـه خپه کړی نه ده
په خواهشـــاتــو د هــوا نه کـــوم

ومه بد مسته په ځان نـه پوهېـدم
نوره ظلمــونه به په چـــا نه کـــوم

زه قلمدوست ډېر گناهگار یم ربه!
ښښنه غـــواړم خـدایه بیـــا نه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خـــراب زړه له ما نه وړی پرون چـــا دی
جوړ د سترگو نه مې کړی جیحون چا دی

ښه بې غمه اســــوده وم په دنـــــیا کې
نه پوهېــــږم یمه کــــړی محزون چا دی

بې پـــروا پـه ژونـــــدانه لکـــه پاچا وم
نو چې کړی یمــــه خوار او زبـون چا دی

د دنیـــا د کـــار او بـــاره یـــم وتـــلی
د ښامار غوندې یم کړی افســــون چا دی

اشـــنا هېڅـــکله لـه مـا نـــه بېلـــېدله
جوړ زموږ په منځ کې کړی بېـلتون چا دی

په پښتـــو او په دري ژبـــــه شعـــرونه
قلمدوست غوندې جوړ کړی مـــتون چا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګیــــه خپــــه کېــــږه مه لیــلی دغسې ده
د ډېـــــره نـازه ګــــرځي په هوا دغســــــې ده

پاچا ده د خوبــــانو بې پروا ګـرځي وطن کې
هغــه فقیـــره نــــه ده، اغنـــــيا دغســــې ده

په خوله به درته وکړي ډېرې ښې خوږې خبرې
قاتــل دې وي د سـر ګـــوره اعدا دغســــې ده

دنیـا لکـه پیـاله د میـــو ګــرځي لاس په لاس
مــــدام نه وي يو چـــا ســـره میـــــنا دغسې ده

که سل کاله دې بار وي په اوږو بیـا به خپه وي
دښمن دې شي په هېڅ باندې اشـــنا دغسې ده

خوښــی د دنیا کم او غم يې ډېر دی قلمدوسته
ډېـــر يې ارمــــاني کړی ده دنیا دغســــــې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معلم

ته لکه ستوری د ادب یې په اســـمان معـلمه
په تا ده لوړ ددې وطـــن نوم او نشـــان معلمه

ته یې فني د فابریکـــــې د انســـان جوړولو
دي افلاطون او ســـقراط دې شاګردان معلمه

په عربي او انګـــریزي هر هر څوک نه پوهېږي
د حوصـــلې نه ډکــه ته یې ترجـــمان معلمه

دومره زیـــارونه چې وباســـې د وطـــن دپاره
وطن اباد شـــي که هر یو وي ســتا په شان معلمه

دا تنخواګی وخوره، مه مره چې حکومت درکوي
سل افـرین دې چې په هغـه کـــړې ګذران معلمه

دا قلمدوست خوارکی هم مخلص شاګرد دی د ستا
زه همېـــشه یم دعـــا ګـوی د اسـتادان معمـــله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اوازه ده د حســـــن د لیـــلی کلـي په کلـي
په مینه د هغه شـــومه رســـوا کلـي په کلـــي

زاری ورته کوم ماشـــــوم زړګی مې نه صبرېږي
نـــو ګـــرځم بې مضـــمونه په غوغا کلي په کلي

بېلتون راسره مل شو خوب ارام یې رانه واخیست
دیدن پـــسې بـه لېـــږم هر ســـبا کلي په کلـي

خواري مې وکـــړه ډېره در پسې خو زما نه شوې
کـــوومه شکایـــت دې د جـــــفا کلـي په کلـي

ملنګ دې رانه جوړ کړ د خیـــرات په نامه ګرځم
مطلـــب مې دی دیدن هره بېـــګاه کلي په کلي

شعـــرونه د ډېر درده لیکل کېــــږي قلمدوسته
ټـول خلـــک شو خبر ســـتا په ژړا کلـي په کلـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وطن د مور بچی یــم منت بار نه یم د چا
په ظلم په خیانت کــې طرفدار نه یم د چا

د خلکو ایینه یم په خپل رنګ ور ځرګندیږم
جنجال او خصومت کې په قطار نه یم د چا

د هر چا ســـره میـــنه په صفا زړګي کومه
صادق یم په هر کار کې شرمسار نه یم د چا

نمام نه یم چې جوړ کړم د دوستانو دښمني
خنډ شـــوی د خوښیو د روزګار نه یم د چا

غاټول غوندې په زړه زخمي ولاړ په خپله ونه
یواځـــــې یمـــه پاتې انتـــظار نه یم د چا

بوډا شوم قلمدوسته او دوستان را ځخه تښتي
په ژوند کې ســبب شـــوی د ازار نه یم د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

يو ځلې را شه چې دې بيا ښه په سينګار ووينم
ګناه نه کېږي خـو چې بيا دې په تکرار ووينم

په ژوندانه اعتـــــبار نشته لکه باد تېـــــرېږي
څنګ ته مې کېنه ګلې ښه دې په قـرار ووينم

خالونه څومره خوند کوي د اننګـــــو په څوکو
دا شنه خالونه دې يو ځل چې په رخسار ووينم

زړګی مې ډېر دی کـړېدلی د بېلتـــون د لاسه
د کوره ووځــه ښايســـت دې په ګلــزار ووينم

پسرلی راغـــی په چـــکر شه د هــــمزولو سره
ته ملــکه يې د خــــوبانو په قـــطار ووينـــــم

قلمـــــدوست وايي درته کېنم انتـــظار په لاره
چې ته روانه شـــې په لار زه دې رفـــتار ووينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اشنا ته مې ســــــوغات د نـوي کـال راوړی دی
په طمــــعه د دیـــــدن او د وصــال راوړی دی

رسوا شـــــومه په مینه د جـانـان په لـر او بر کې
غماز د لاســـه ډېر مې په جنـــــجال راوړی دی

خیر ده که څه کمی پکې وي ګـــوره بې وسي ده
خالي یوه نتـــکی سره ســــور شـــال راوړی دی

چې سترګې دې وي تورې او لاسونه دې ښه سره وي
نکــریــزې او رانجــه مې په دســـمال راوړی دی

همـــزولو ته چې کـــم نه شـې جـانـانـه دې لپاره
کلچې او پـــــتاسې مې په ډېـــر خیال راوړی دی

ژمی در باندې تېر شو قلمــــــــدوسته خوشحالېږه
زما نه هـــــم موســـم د اعتـــدال راوړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بېلتون کــې دې کومه د هجران سره خبــرې
تمامه شـــپه د ستورو د اســـمان سره خبرې

د زړه دوا هېڅـــکله طبيـــبان کولی نه شي
اوښکې مې هره شـــپه کوي باران ســـره خبرې

په هېڅ چا ظلـــم مه کــوه د خـــدايه ووېرېږه
اهونه د مظلـــوم کـــوي تـــوپان سره خبـــرې

کوم کار او کوم عمل چې به دې کړی وي تر اوسه
يواځــې شـــه لږ وکړه د وجـــدان ســـره خبرې

دنيـــا ځای د عمــل دی فضـول ګرځې قلمدوسته
يو وخت به وکــړې ګـــوره د ارمان ســـره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په دا ناز او پــــه ادا چې يار قدم ږدي
زما زړه پــــورې داغونه دم په دم ږدي

رنځور شــوی يم د يار په بېلتـــانه کې
کوم بيمار دې چې قدم په لاره سم ږدي

بې غوري زما د يـــار د حـــــده واوښت
پرهرونه په زړګـي مې په ســـــتم ږدي

د خوبانو مکر هر وخت په هـــر رنګ وي
هره ورځ په بله شان او بل رقــــم ږدي

رسـوايي زما نه ټـــول عالــم خبـــر شو
خوږ اشنا چې راته غم د پاســه غم ږدي

د جـانان شکايت مه کړه قلمـــــدوسته
که نه ګوره چې په لاره درته بــــم ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وګورئ! خلــــک اولادونه په ډالــــــر خرڅوي
د علم پوهې څه باک نشـته په کالر خـــــرڅوي

چې پوزېشـــــن يې برابر وي او مــــــوټر ولري
نور پســـــې نه ګرځي ســـهار يا مازيګر خرڅوي

ډېـــرې انجـــونې تجـــارانو و بهـــر ته بوتلل
نو خدای پوه شه چې يې هلته په کوم خر خرڅوي

چې غـــاښ يې نه وي او په خپـــله په لکړه ګرځي
څه غم يې نشـــته چې ميلاو شـي ورته زر خرڅوي

زموږ وطـن کې جنــکۍ لکه څـاروي خرڅېـــږي
چې وي بوډا او ده تـــه وي لکـــه پدر خرڅـــېږي

نو قلمــدوسته څه غـــــرض دې ده، د خلکو په کار
مشتري هر څوک چې وي خپل مال سوداګر خرڅوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څومره چې وغولېـــږې خپل اشنا دې غــــولوي
په هره معـــامله، هــــره ســـودا دې غـــولوي

د ستا به زړه صفا وي اعتـــبار ور باندې وکـــړې
روان وي په دروغـــــو، په رښـــتیا دې غـــولوي

غله چې کوم شی غلا کړي په تیاره کې ورته ورشي
دوستان او اشـــنایان بیـا پـــه رڼــا دې غـــولوي

دولت په دفتـــرونو کې هم چـــل او غــــولول دي
چې ورنه کـــړې پیـــسې په نن ســـبا دې غولوي

بازار ته سر دننه کـــړه بیا پـــــته در لګـــېږي
په هـر څه قســـم وکـــړې په والله دې غـــولوي

غلیـــم باندې هېڅ کله باور مه کړه قلمـــــدوسته
په زړه درته غاښ چیـــچي په خندا دې غـــولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اختره ښه راغلـــــې، ولې تنـــها راغلی یې
وطن و پرهـــــرو تـــه بې دوا راغـــــلی یې

وطن د انتظار سترګې دا ستا په لور کږې وې
امنيت دې څنګه هېر کړه خالي بيا راغلی یې

جګړه ده د وطن په هر يو ګوټ کــې ډارېدلې
چې سپوره په هـــلال او په هــــوا راغلی یې

راغلی! چې يتيـــمانو ته غم راولې اخـــــتره
تپوس به تـــا نه وکـــــــړي د ابـا راغلـــی یې

ځواب به وايــــې څه د بــې چـــاره و يتيمانو
کورونه ورته جـــوړ کــــړې کربلا راغلـــــی یې

زلمی وم قلمدوسته چې وطن کې جګړه پیل شوه
تر اوســـه ده روانــه، شـــوم بـــوډا راغلی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ما پرېږدئ! له قلــــم سره تنها يـــــوه شېبه
چې وليـــــکم غمـــونه د دنـــــيا يوه شېبه

دنيا کې خوښــي نشته ټول غمــونه را ورېږي
په غم کې به څوک څه وکړي خندا يوه شېبه

ادم په يو خطا باندې ســـــــل کاله ژړا وکړه
تا ونه کـــړه په زر ګـــــــناه ژړا يـــوه شېبه

غيبت زمـــورږ د لوبې د مجلس ښــه وسيله ده
تېرېږي نه پــه مــــونږه بې ګـــــناه يوه شېبه

الله په امـــــــر و نهې باندې څومره برابر يې
دا خپل وجدان قاضي کړه په رښتيا يوه شېبه

که وېره د محـــشر ولرې ګوره قلمـــــــدوسته
بيا هېڅ کلــه نه ګرځـــــې بې پروا يوه شـــېبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خوږ عمر چې تېرېږي په انسان خوشې چتې
بې ياره بې دلداره په هجـــــران خوشې چتې

ځواني ډېر قيـــمتي ده په پيـــسو نه ميلاوېږي
بيا نه مومـــې کـه وګورې جـــهان خوشې چتې

چې ږيره دې شوه سپـــينه لا تر اوسه خبر نه يې
لګيا لکه ماشوم يې په ډېـــران خـــوشې چتې

دا سترګې دې د نورو و عيبو ته ذره بيـــــن دي
د غره غوندې نه ويني د خپل ځان خوشې چتې

پيـــسو لپاره څـــومره سفـــرونه کـــړې بهر ته
جومـــات د لمانـــځه يې ناتوان خوشـــې چتې

ګاونـډ دې سوکړک نشـتـه او بچيان يې دی نهاره
ته موړ يې ځان ته وايې مسلـــمان خوشې چتې

وايم مبـــارکي درته حاجــــي صاحـــــبه څنګه
تا کـــړی و الله سره پيـــــمان خوشې چـــتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا کـــړی و قســـم چې د خـــدمت او صداقت
یو کار دې هم ونه کـــړه په ایمان خـــوشې چټې

نه خط او نه سودا او نه امــــلا شته په مکتب کې
روان وي ښوونځی ته شاګردان خـــــــوشې چټې

ته وایه په ایمــان چې دا هـــــوښیار دی که پاګل
چې خپل لور خـــرڅوي لکه حیوان خوشې چټې

هر یو زورور پخـــپله حاکـــم دی په هــــر ځای
ناست دی په څوکۍ باندې قومندان خوشـې چټې

رښتیا ویل زور غواړي اې بې وسه قلــــــمدوسته
کوم وخت به دې شي څیـرې ګریوان خوشې چټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یو زه وم، یو قــلم و، تر ســــبا چې ژړېدو
ماحول چوپه چوپتیا نه وو، غوغا چې ژړېدو

ملګری مې قلــم ده په خپــګان راسره ژاړي
اشـــنا و پر ما کړی ډېـــــر جفــا چې ژړېدو

ګیله د دښــــمنانو نه هېڅ چا به نه وي کړی
ډېر سخته ځــــورولــی وم اشـنا چې ژړېدو

رقیب له لاسه لاړم صـــــحراني او لېوني شوم
بې واکه بې اختیاره په بېـــــــدیا چې ژړېدو

بندي ومه بېګاه د بېلـــتانه په جېـــلخانه کې
راغلـــي وو مرغـــانو د هـــــوا چـــې ژړېدو

دوستان سړي نه ښتي بېوســی کې قلمدوسته
ملګـــری مې قلـــم ده په رښتـــیا چې ژړېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په نظر مه شې اشـــــنا ډېره ښایســـــته یې ګلې
لکه پنبه داســـــې نرمـــکه او پســـــته یې ګلې

زه لکه ونه د چـــــــنار دې په خدمـــــت ولاړ یم
ته لکـــــه ګل یې د ګلــــونو ګلـــــــدسته یې ګلې

ښکلي دي ډېرې خو دا ستا غوندې کېدای شي کله
ته د خـــوبـانـو یـې پـاچـا او سـر دســـته یې ګلې

هر یو انسان په زلمیـــــــتوب کې ډېـره ښه لیده شي
ځکه ډېر ښــــــکلی یې چـــې نوی نو رسته یې ګلې

په دې ډاډه یـــــم چې رقیـــــب دې غولولی نه شي
ځکه هوښــــــیاره ښه چالاکـــه دانـــــسته یې ګلې

که زه دې هېــــر کړم تا خو کله هېـــــرولی نه شم
د قلمـــــــــدوست د زړه په کور کې پیوسته یې ګلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګيه مه نازېږه په دوران بانـــــدې هېڅکله
رودلی ده او مه شيدې انـسان باندې هېڅکله

دوستانو سره ښه ســـــلوک د هـر چا وجيبه ده
خان مه خواروه خپـله په ياران باندې هېڅکله

د لوږې نه چــې مړ شي سړی دا به افتخار وي
مه کېــنه د موزي په دسترخوان باندې هېڅکله

دولت او قدرت لونګ ده د حمام مه دوکه کېږه
سترګې برک مه کړه په خـــواران باندې هېڅکله

د ځان په څېــر د بل هم د عــــزت احترام ساته
تعرض مه کړه عـــفت د مسلمان باندې هېڅکله

د دين په هدايـــاتو عمل وکړه قلمـــــــــدوسته
لوبې ملنډې مه کوه ايمـــان باندې هېـــڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ويښته غونډې پيرۍ کې زړه نرۍ شي د سړي
دا خپـــــل بدن يې هم ورته پردۍ شي د سړي

هر څومره چې باتور او پهلوان وي په اخر کې
پيري کې ګـــــوزاره په بې وســـۍ شي د سړي

ځواني کې د بشـــر رنګ لکـــه ګل وي د ګلاب
پيري کې بيا يې رنـــګ لکه تبـى شي د سړي

ځواني کې اداره يـــــې د زر ها وي ور په غاړه
پيري کې احتـــياج ورته لرګـــى شـي د سړي

بېمار او ناتـــوانه درد و غم ســــره يې سر شي
شپې يې تر ســـــهاره په ځګـېروى شي د سړي

ژوندون بې اعتبار ده قلمـــدوسته خطا نه شې
چا نه ده وړى پـــاتې به هـــر شى، شي د سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

يارې وکړه زړګـــيه د کـاروان د نيمې شپې
رسېږي لوړ مقام ته مخلـــصان د نيمې شپې

د نيمه ورځ سفر کې رنځـوري او بېماري وي
شفا ده و ناروغـــو ته درمـــان د نيمې شپې

ورېږي رحمــــتونه د الله پـه نيمه شـــپه کې
ومينځه ګنـــاهونه په بـاران د نيـــمې شپې

د رب حضـــور ته وژاړه د خپـــله خــطاګانو
جوړېږي يوه څاڅـکې نه تـــوپان د نيمې شپې

کنډولـــی د اخـلاص په غـاړه واچـــوه روان شه
رسېږي پـاچـاهـي ته ګـــدايان د نيمې شپـــې

کوم شی که دې په کار وي قلمدوسته ورشه واخله
خرڅېـــږي په ارزانه په دوکـان د نيـــمې شــپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که عزت غواړې اســـلام کې ډېر عزت دی
په اسلام د خــدای همـــېشه مرحمت دی

دا ده خپله مرحـــمت چې مسلـــمان یوو
که نه ډېر د خدای مخلوق په طبیـــعت دی

د الله نه چـــې وېرېږي، وي سر لــوړی
چې پــه لاره نه وي ســـم نو په ذلـــت دی

خواري ځان ته کړي بیا خلکو ته محبوب وي
نور څـــه نشـــته، نتـــیجه د عبــادت دی

د الله رضــا وګټــه چـــې کامـــیاب شـــې
چې عابــد نه وي څـوک وایي حــماقت دی

قلمــــدوسته چې په درد نه خوري کـوم ده
بل څه نشـته پس له مــرګه ندامــــــت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

يو څه د ځــان سره ســـوچ وکـــړه په ايمان شاعره
دا وخت خـو نه دی د ســـتاينې د جــانان شاعره

وطن ويجاړ او کنډواله شوه چورت دې نه دی خراب
دا هره ورځ چې مـــري لرګی دی که انســان شاعره

زموږ د بده بخـــته ګـــوره په دې خـــوار وطن کې
کار و بار نشـــته لـــوی واړه دي پرېـــشان شــاعره

ډوب شول زرهـــاو په بحـــرونو کې ډوډۍ په خـــاطر
ډېر يې ځنګلـونو کې خوراک شو د لېـــوان شاعـره

جانان دې سر وخوري لږ دې خوا شه چې ودې ښـييم
ببـــر ســـرونه لوڅـــې پښـــې د يتـــيمان شـاعره

دا دومـــره بد حالــت په تا  بانـــدې اثـر نه کـــوي
چې قلـــم واخلـــې يو په يو وکـــړې بيـــان شاعره

قلمدوســـــت وايي درته ګـــوره د وطـن په خـــاطر
وليـــکه ټولې دا ناخـــوالې په عـــيان شـــاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که لږ څه غونډې واده مخـــتصر شي، نه کېږي؟
چې ګټه دې د ځان او بـــــرادر شي، نه کېږي؟

خير ده چې لور والا يې اســمان نه لږ راکوز شه
احسان سره غيرت شمله دې بـــــر شي، نه کېږي

ولور په خاطر ډېر ځوانان مرګـــي ته مو لاهو کړل
که سم شــې ته دا نـــورې زړور شـــــي، نه کـــېږي

خپښې خو داسې نه وي د سړي څرمن ايستل دي
د خپل خپښ دې حـالاتو ته نظـــر شي، نه کېږي

د ډېره ډوله ډېپه چې شې تېر تاوان دې څه وي؟
واده چې دې په شـــــرع برابر شـــي، نه کـــېږي

د دوست د خپګان هم لږه خيال ساته قلمـدوسته
واده باندې چې خوښ دې پيغمبر شي، نه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډېره د پوهې په وطن کې فـــروزان غواړمه
واړه بچي د وطن ښـــه ښـــه عالمـان غواړمه

ډېره د دين دي، عالمـــان زموږ د سر تاجونه
په خپله علـــم بانـــدې واړه عامـــلان غواړمه

دى اسلامي جمهـــوريت افغانســـتان په نامه
قوانيـــن واړه بـــرابـره په قـــرآن غـــواړمه

په دې وطن کې چې اوسېږي واړه افغانان دي
تاجک، ازبک، هـــزاره، پښتون افغانان غواړمه

وطن تباه شـــولو د ژبـــې د تعـــصب د لاسه
بې له تعصـــبه او نفـــاق افغانســـتان غواړمه

افغانان ټول سره دي ورونه قلمـــدوســـته ياره
لوړ په جهان کې د افغان نوم او نـشان غواړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یاره لږ تم شـه چې زه ځم در سره
د پېغور پیـــــتې ګـرځـوم در سره

پردېسـی راغـله د غـــماز د لاسه
د رقیـب ویـــنه تـویـوم در ســـره

که سختی راشي لکه غرونه په موږ
لکه شــــیریني تېــــروم در ســـره

زه دې لیـلي زما مجـــــنون شه ګله
اېلبـــــند په لـورې باروم در ســـره

د غرو لمــــنو کې خـــاټول ګلــونه
په خپل لمـــن کې ټـــولوم در سره

د قلمدوست غریب کېږدی هم نشته
بیـا بـــه جونګـــړه جـــوړوم در سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځومره ســاده وم چـــې پر تا مې اعتبار کړی و
په مرکنـــــډو مې ګومانــونه د ګلـــزار کړی و

ډوب په سوچونو کې وم تللی په ځان نه پوهېدم
په خپل رقیب باندې ګومـان مې د ريبار کړی و

يار مــروره زه بـــې وســـه ناتـــوانه شــومه
دا يې ثـــمر چې مې کلــونه انتـــظار کړی و

د وفا خلــک ولـې پـاتې په جـــهان کې نه دي
ښه تعبـــيرونه د وفا مــــې په دلـــدار کړی و

اشنا بې باکه ده، مغروره چې هېر کــــړې يې ده
د بــې وســۍ نه خــو مې هــر کله اقـــرار کړی و

د قلمدوست خوشې خواري ده چې په ځان قبلوي
که نـه هـا کـوم ده چـې يــې ګټه په دا لار کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لګېـــدلی دی پر مـــا نـــظر د چا دی
زړه یـــې وړی دی زما بـــشر د چا دی

تورې سترګې سرې شونډې یې میګونې
زما یار غونـــــدې نـری کـــمر د چا دی

شاعران چې په اشــــعارو یې صفت کا
جانان هسې بخـــتور په ســــر د چا دی

هره ورځ زما اختـــر بـــرات مې شپه ده
لکه زما د خوشـــحالۍ اخـــتر د چا دی

خپل جانان ته یم روان په ډېـــره میـــنه
ما په شـــانې وایـــه بل ســـفر د چـــا دی

پـــه پښـــتو او پـــه دري ژبـــه شعـــرونه
قلمدوست غونـدې شیر او شکر د چا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وګورئ څومره ښه نوم او نشـــان دی د بغلان
وګړي غيـــــرتي او قهـــرمان دی د بغـــلان

د حق وينا ده ګرانه هـر ســــــړی ويلی نشي
په حق باندې بې ترسه عالــــمان دی د بغلان

ځوانان يې هر يوه ملي سمـــبول دی د غيـــرت
ازبک دی، که پښـتون، که تاجکان دی د بغلان

دهنه، دوشي، تاله، که اندراب دی، که خنجان
نهرين، خوست او برکه په بدن ځان دی د بغلان

په خلاصه تندي هر يو يې مېلمه ځان ته رابولي
مېلمه باندې خوشحاله هر يو ځوان دی د بغلان

که سمه ده، که غر دی په بغلان کې کرل کېږي
کنـــدو د نيـــمايي افغانســـتان دی د بغـــلان

که هر څومره وليکې قلمــدوسته نه ختــمېږي
بيـــرون دي صفـــتونه د بيـــان دی د بغـــلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تباه شولو خوبـونه د غفلــت به وي تر کومه
تر کلــه نه پوهـــېږو جهالت به وي تر کومه

دښــمن مو جنــګوي يوه تــر بله ســـره ولې؟
تميز عقل مو نشــته حمـــاقت به وي تر کومه

پوهه او قلــم لاړل لـه ټوپـــکه قـــرباني شول
پر موږ باندې دوام ددې حالت به وي تر کومه

جېبونه او جـــوالونه مـــو ډک کـړي له حرامو
قطار عمـــــارتونه د رشـــــوت به وي تر کـــومه

دنياوالو سپـــوږمۍ تـه لـه کـــماله رسېدلی
افغان ولس غريب به په ذلـــــت به وي تر کومه

وجدان دې په رښتيا سره قاضي کړه قلمدوسته
عمـــل دې مخـالف د شريعـــت به وي تر کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ارمان مې دا ده چې وطـــــن ګلـو ګلزار وشي بيا
چې د مشهد نه تر دهلـــــي مـو اقتـــدار وشي بيا

افغانان يـــو موټـــي شي هر کله غلــــيم په مخکې
واړه افغـــان بچـي د يو مـــــور او پلار وشـــــي بيا

وطن به وکړي پرمخـــــتګ که افغــان يـــو شي سره
که له وطن نه لنـــــډ لاســــونه د اغـــيار وشي بيا

ټينګ که امنيت شي په وطن کې او جګړه شي ختمه
په افغــانانو هلــته ښــکلې شــان روزګار وشـــي بيا

دا پاکستان لکــه لســـتوڼی مار جـــوړ شوی موږ ته
کاشکې چې ورک نوم او نشان ددې ښـــامار وشي بيا

نو ســــتا دا هيـــله قلمـــدوسته کلـه سـر ته رسي
چې احمد شاه بابا ژونـــدی شي او ســرکار وشي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په بوډاتوب کې زړه، ویښته داسې نرې غوندې شي
وشي بې وســه ناتـــوانه اوږ بچـــې غوندې شـــي

وي پیوســـته ښکلي غاښـــونه ملغـــلرو په شـــان
پیري کې توی شي بیا خوله لکه خولی غوندې شي

روان پـــه لار کـږه وږه وي پـــه لکـــــړه بانـــدې
دا خپل عزیز بـدن یې هم ورته پـــردی غوندې شي

یواځې پاتـــې شي لګـــیا وي خـــپله ځانه ســـره
د حال احوال یې پته نه وي ګاونـــډی غوندې شـــي

نه څه خوړلی، نه لیـــدی شـــي، نه د کار وي توان
د حسرت اوښکې یې جـــــاري لکه ږلی غوندې شي

ژوند قیمتي دی قلمدوســـــت غوندې د هیڅا مه شه
چې کور کهول یې ورته ســـــور لکه بتی غوندې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خټګر ماما

دا خپـــل عـــمل ته ولـې نـه کـړې لـږ نـــظر ماما
ځان مـه تېـــر بـاسـه تـا تـه وايـــمه خټـــګر ماما

نيمايي کلی اجاره کړې، يواځې يې څـــه به چاره کړې
يو ځــای دې ايـــښی دی پـــټې بل کـــې ځادر ماما

ځان مـه تېـــر باســـه تـا تـه وايـــمه خټـــګر ماما
وعدې دې ټولو ته سبا وي چې لاړ شې چا سره رښتيا وي

پـــه ژونـــد کـې نـه يـې چلـــــېدلی بـرابـر مـامـا
ځان مـــه تېـــر بـاســـه تـا تـه وايـــمه خټـــګر مـامـا

کار دې همـــېشه غولـول دي او د هر چـا دوکه کول دي
چې پيـــسې واخلــــې وي د زهـــرونه بـدتـر مـامـا

ځـان مـه تېـــر بـاسـه تـا تــه وايـــمه خـــتـګر مـامـا
خلک وي درته انتظاره، ناســـت به وي سترګې در په لاره

ټليـــفون ګل کـــــړې نـه وېـــرېـــږې لـه محـــــشر ماما
ځان مـــه تېـــر باســـه تـا تـــه وايـــمه خټـــګر مـامـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې بې قوله يې بې عـــهده، زه دې خــپه کړمه بې حده
ته کراچـــۍ شـــــې پيـــسې وګـــــرځې مـــــوټر ماما

ځان مـــه تـــېر باســـه تـا تـه وايـــمه ختـهـــګر مـامـا
زه قلمـــدوست يم نرى خـــيال تـــوان مــې نشته د جنجال

ښېـرې کـــومه درتـــــه هــــر شـــــام او سحـــــر مـامـا
ځان مــه تېـــر بـاســـــه تـا تـــه وايـــمه ختهـــګر ماما

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په دوکه او دروغــو د اشـــــنا وغولـېدم
ګومان مې په هغـه و لګه تا وغـــولېـدم

ساده وم په چلونو د پیِ مخــو بلد نه وم
خالي يوه مسکا او په خــــندا وغولېدم

د سپینې جامــې لاندې بلاګانې دي پراتې
د ظاهـــري شېـخانو په ويـــنا وغولېـــدم

چل نه راځي د سره د هر چا سره صادق يم
په لفظ او قســـمونه د هـر چـا وغـولېدم

باور مه کړه دنيا باندې هېڅ کله بـــرادره!
ښه پوه ومه اخـــر کې په ســودا وغولېدم

ددې زمانې خلکـــو سره سخته ګوزاره ده
سل ځلي غولېـــدلی ومه بيا وغـــولېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګی مې درته وخته دی بایللـــی که راځې
د زړه په کور مې ځای درته ساتلـی که راځې

شیرینې پس له دې بې ترسه چـم ته زما راشه
غماز مې له وطنـــه دی شـــړلـی که راځې

په مینه چې رسوا شي سړی دا به یې کمال وي
د کلـــي پېـــغورونه مـې منلی کـه راځـــې

ستي د بېلـــتانه یمـــه اورونو کې دلـــداره
لاسونه په ټټـــــر مې دی نیـــولی کـه راځـې

مینه ښایست نه غـواړي څه جادو دې پر ما کړی
پر تـا مې میـــنه ډېـــره ده راغلـــی کـه راځـې

محبوب د شـــاعرانو چـــې ازاد وایـي شعـــرونه
شاعر قلمـــدوست هـم مـې رابللـــی که راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که وجود دې ناتـــوان شي بـــیا به څه کړې
چې تاوان در باندې ځان شي بیا به څه کړې

په جېـــبو کې دې وز لوبـــې کـــړي موږکو
هر ساعـت دې په ارمان شي بـــیا به څه کړې

بې پوښتـــنه په یو کـــونج کې بـــه وي پـروت
چې دې انړندې بخیـلان شي بـــیا به څه کړې

په لکو چـــې دې خـــــرڅه ور بانـــدې کړی
چې د ښځـــې غـــلامان شي بـــیا به څه کړې

نه د کوره شــــــې وتـــی، نه گـــرځېدی شې
چې دې ورک نوم او نـشان شي بیا به څه کړې

د الله رضـــا وګتـــه قلمـــــــــــــــدوسته
که خپه درنه سبـــحان شـــي بیا به خـــه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د غوړو نه تر اعصابو، د معدې نه تر هډکو
د هر يو ډاکټران شته دي د جېبونو ډاکټر کوم دی

هر پرهر لره دوا شته طبيبانو ته معلوم دی
بې دوا او بې درمانه د جېب درده بدتر کوم دی

توره شپه پسې رڼا وي هر سختي پسې اسانه
د تل پاتې په ظلمت يم، و خوښيو سحر کوم دی

جنازې دي را روانې د هر لوري د ځوانانو
د اختر ورځې شپې دي د يتيمو اختر کوم دی

دولت والو قسم کړي هر يوه د صداقت دي
چې په کار يې د اخلاص يوه ذره وي اثر کوم دی

ياران ډېر وي په هستي کې قلمدوسته خطا نه شې
بې وسۍ کې چې ياور شي کله واخلي خبر کوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ترڅو ناري سورې به د بېداد د زمانه کړم
اهـونه يار د لاسه تر سـهاره شـبانه کړم

چې پوه نه شي غماز را باندې وايـم غزلونه
چاره بله مې نشته ده نو ځنـګه بهـانه کړم

دروند شو د غم پېټی زه يـواځې پاتې يمه
غمونه په غمو بانـدې به نـوره درانه کړم

د يار مخ مې ليـدلی و ناڅـاپه په هينداره
کېدای شي بيا وويـنـمه نظـر په ايينه کړم

مستۍ کې ګرځېـدمه بې پروا لکه پاچا وم
رباب چې رانه جوړ شولو دغسې جانانه کړم

تعليم مې دومره نشـته قلمدوسته ګرم نه يم
کله اديـبانه غـزل او کله عامـيانه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پرون خو يې خر نه و، نن له کومه کرولا کړه
د خلکو يې جيبونه که کورونه يې تالا کړه

څوکۍ ورته په لاس شو که پاټک يې اچولی
قاچاق د مخدرو زندګي ورته بالا کړه

تنخوا کې نه جوړېږي دا دولت چې اوس دده دی
يا تللی و ايران ته زرګرانو نه يې غلا کړه

تنګسې نه چې خلاص شولو دا ډېره ورته ښه شوه
مدير د هه هه هه وو که يې بله کوم بلا کړه

يا چېرته ولسوال يا قوماندان وو با قدرته
يا جوړه په مظلومو خپل وطن يې کربلا کړه

دا کار يا په ټوپک يا په قدرت شي قلمدوسته
چې نه شو در په لاس نو مرحمت درته مولا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د کوره يو ځلې بيا نور هـــم په ادا را وځه
د ديدن تږی يـــمه ياره په مســـکا را وځه

په جېلخانه کې د ببلتون ډېر ځوربېدلی يمه
د زړه پرهار ته مې دوا شـه په خندا را وځه

کلي باندېو کې تهمـتي کړمه غماز تور مخی
ټول تهمتونه د رقيــــب وکړه رښـــتيا را وځه

د ملنګانو په جـــامه به دې درشـل ته در شم
وايه خيرات غـواړي راغلـــی دی ګدا را وځه

تنکی زړګی مې د غمونو برداشت نه کوي نور
چې خـدای مه کړه درته ونه کړم ښېرا را وځه

په چيـــغو چيـغو کړيــده بېګا دا ستا له غمه
د قلمدوســـت سره مـې کـړې ده ژړا را وځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یا زه یم بدل شــــوی یا زمـان شـــــوی بدل
د مخه ټولې چـــــارې د جـــهان شوی بدل

مېلې وي راشه درشه د خپـلوانو خوندورې
خپلوۍ پخپله ځای ده خو یاران شوی بدل

احسان او بـدي دواړه په یـوه تیږه تلل شي
بدل شوی دسـتور دی که احسان شوی بدل

مشرانو په څوکیو باندې لوبې ماشومان کړي
مقام شـــولو بې قـــدره که دوران شوی بدل

موسم د ژمي خـتم شـــو د واورو درک نشته
نیتونه مـــو بدل شـــو که اســـمان شوی بدل

کاڼه خلکـــو ته څه کړې فریادونه قلمدوسته
غوړونه روغ رمـټ دي خو اذهان شوی بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ما چې کوم نوم د خـپل نظر په ایینه ولیکه
دا خوږه نوم مـې بیا د پاسه په سینه ولیکه

ددې لپاره چـې مې هېر نه شي په یاد ولرم
د ژونــدانـه په اییـــنه مې رنګیـــنه ولیکه

چې یادول یې د هر چا د زړه ارام دی سبب
د جانـان نوم مې ښایســـته په نګـــینه ولیکه

هر څوک د خپله شتمـني نه ښه ساتـــنه کوي
ما هم دا نوم د حافظـــې په ګنجـــینه ولیکه

چې ګدایـان د دروازې یې واړه دي پاچاهان
د دواړو کـــونو د ســـردار ما کمیـــنه ولیـــکه

نه نوی نوم یې قلمدوست په حافظه کـې لري
د ستر لارښود مې د ســـردار د مدیـــنه ولیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځکه ژاړم

دښمني او عداوت په دې وطن کې
تېر د حده د بـیان شــول ځکه ژاړم

د وطن نیمايي خـــــاوره هدیره شوه
ماشومان مو یتیمان شــول ځکه ژاړم

څلوېښت کاله شوه جګـړه ده را روانه
باتوران مو شهیدان شـــول ځکه ژاړم

مزدوري او کار ورک شــو په وطن کې
وطنوال مو پرېشـان شــــول ځکه ژاړم

په سختۍ سره خارج په لـورې درومي
ډېر بې قدره افغـانان شـول ځکه ژاړم

د هر چـــا چـــې څه د وسه کېده وکړه
چې مشران مو غاصبان شول ځکه ژاړم

پښـتانه تاجـک هـر یـو ځـانونه ستايي
څو فرقې چې مسلمان شـول ځکه ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افهـام او تفهـــــيم ژبــه وسيـــله ده
ډېر د ژبې دښمـــنان شـــول ځکه ژاړم

ښه پوهېږي د اســلام په ټــول حکمونو
په عمل بانـدې نادان شـــول ځکه ژاړم

د خېښې پـه نوم د لــوټې خرڅول دي
لور والا چــې تاجـــران شول ځکه ژاړم

څرمـــن وباســـي د خېـــښه په مکـــرونو
ځيـــنې خلک ظالــمان شـول ځکه ژاړم

هر څوک چېرته چې وغواړي وداني کړي
بې وقوفه ښـــاروالان شـــول ځـــکه ژاړم

په لکو چې پلار خـرچه ور بانـــدې کـړي
چې د ښځې غلامـــان شـــول ځکـــه ژاړم

د نفاق نتيـــــجه ګـــوره قلمــــــــدوسته
چې پردي مو بـــاداران شـــول ځکه ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

راځئ! چې سره کېنو مشوره وکړو ملګرو
تر څو بې غمه کېنو نننداره وکړو ملګرو

غلیم زموږ په سر باندې ختلی دی یارانو
تر څو لکه مریي به ګوزاره وکړو ملګرو

وطن موږ ته د پلار او د نیکه پاتې ده ولې؟
چې خپل پښې د بل نه اجاره وکړو ملګرو

پوهېږو چې وطن مو پردیو چور تالا کړه
تر کومه به ځانونه کناره وکړو ملګرو

دښمن زړه به پر موږ باندې هېڅکله نه سوزېږي
که سترګونه د وینې فواره وکړو ملګرو

ساده یې قلمدوسته غولېدلی یې بېدار شه
ملت ته د پاڅون یو اشاره وکړو ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

يارانو واورئ! عجيــــبه غــوندې اسرار مې وليد
يوه ماشوم په قبــر ناســـته په چـــغار مې وليد

زه ور نږدې شــومه چې ولـــې ژاړې وجه څه ده؟
کړېده ځان ســره بې خـــوده په مـــزار مې وليد

ما ســره وه خوراکـــي شـــی ورته مې کېـــښودله
د ډېر ژړا نـــه پـــه ځګېـــروي او ناقـرار مـــې وليد

نه شي ليـــده، نه اورېـــده، لګـــيا وو ځـــانه سره
غرق بې خودي او پـــه جنـــونو کې بسيار مې وليد

بو مې تله کلـــي تـــه خپـــلوانو تسليـــمي د پاره
راته معلـــوم شو چـې مـــور هـم نه لري زار مې وليد

داسې خلک ډېر دي قلمدوسته په دې خوار وطن کې
بله بې غـــــوره داسې نشـــته چې سر کار مې ولـــيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اوس چې ویلی شم، لیکلی نه شم
لاسونه رېږدي، ټیـــنګولی نه شـم

څه وکړم راغی بوډاتوب را باندې
په خپـــله ونـه دربــدلی نـه شـم

مخـــکې مې لګـــولي چـــکرونـه
اوس بې لکـړه ګرځېــدلی نه شم

د نعمـــــتونو د دنیا شـوم پـــرهېز
را باندې نه لګـي خـــوړلی نه شم

پخوا د ډېرې حوصــلې خاوند وم
سخته خبـره اوس زغمــلی نه شم

خپه شي خلــک که رښـتیا ووایي
زه قلمـــدوست ځکه ویلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سترګې لرې مســتې شرابــې لکه هغه
رخسار یې را ځلــېږي ګلابــې لکه هغه

ورېځې کمـانونه او بانــه یې تېره غشي
خپل میـیــنان کاندي قصـــابي لکه هغه

هغه فقیره نه ده د خــوبانو شهزادګۍ ده
امـرونه په عاشــق کـړي نــوابي لکه هغه

د ډېر مودو راهیسې د وصال په انتظار وم
بېــګا یې بوسـه راکــړه ثوابـــې لکه هغه

په تمه د دیدن یې ډېر کسان ورته ولاړ وي
پر لاره چې بدلـــېږي نقـــابي لــکه هغه

وختونه دې لایه تېرېږي ګـوره قلمــدوسته
نږدې ده تا نه جوړ شـــي ربابي لــکه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که ډوب یــــم په غمـو کې د اشنا، په تا یې څه
که یار کــــوي زما ســـره جـــفا، په تا یې څه

غمـــازه غلی کېـــنه زه و هغه ښـــه جـــوړېږو
که کېږي یا کـه نه کـــېږي پخـــلا، په تا یې څه

که وشي دیدن یا ونه نـه شي دا به مې نصیب وي
که ځان ســره کړېـــږمه تنـــها، په تـا یـې څـه

کلی را باندې تنګه شوه مجنون سره یو ځای شوم
مسکن مې شوه که څنـډه د بېـــدیا، په تا یې څه

ابـــادي د دنـــــیا واړه پـــه ګټـــه ده ولاړه
خیر ده که زما بـــرخه شــــوه ضـــرا، په تا یې څه

اسانه شاعـــري نه ده چـــوپ کېنه قلمـــدوسته
که وشــــومه د خلـــکو د خــــندا، په تا یې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وطن به مې ودان کـړه که زما په وس کې وای
ورک مې خاینان کــــړه که زما په وس کې وای

حقدارو ته مــــې حــــق به اخیستله له زور ګیرو
شریعت به مې روان کړه که زما په وس کې وای

بازار کې ګرځېــــدای نه شې د ښځو بیرو بار وي
ستر مې بیبــــــیان کړه که زمــــا په وس کې وای

مرغۍ غوندې قتلــــېږي انســــانان ډېره بې رحمه
قصــــاص مې قاتــــلان کړه که زما په وس کې وای

مامور چې جیګ منزل جوړوي څنګه حکومت دی
هر یــو نه مې پرســــان کړه که زما په وس کې وای

وړوکي کسان ناســــت دي د مشــــــرانو په مقام کې
رخصت مې دا کســان کړه که زما پــه وس کې وای

ولس نیمایي قتـل د افغــــــان شــــو په جـګړو کې
ختم مې په یو شــــان کـــړه که زما په وس کې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول خلک يې د کـار او د روزګـــاره غـــورځولي
فېســـبوک به مې وران کړه که زما په وس کې وای

افغـــان د بېـــماري ويـــروس يـــوازې دی رشوت
بندي مې فاعـــلان کړه که زمـــا په وس کې وای

ولور په خـــاطر ډېر ځـــوانان د لاســـه مو ورکړي
ولور به مـــې ارزان کـــړه که زمـــا په وس کې وای

پيسو ته چې يې سپـــي د دښمـــنانو د دين مينځې
ماړه مې دا کـــسان کړه که زمـــا په وس کـــې وای

ددې وطـــن د هر يـــوه وګـــړي قلمـــــــــدوسته
پوره به مــــې ارمـــان کړه که زمـــا په وس کې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تا وکړه غوښه غرونـــه په شــتاب که دې په یاد وي
ښوروا دې وکړه خلکـو ته درياب که دې په یاد وي

وطن ودان هوسا و، وطنوال مو خوښ خوشحال وو
ناپوهه تا چې وکـــړو انقـــلاب که دې په یـــاد وي

ظاهر پاچا په غرونو کــــې يواځـــې ګرځـــېدله
ته وې په تکاوي کې په حجـــاب که دې په یاد وي

تعليم او تعـــلم په ښـــه صـــــــورت ســـره روان وو
د تا له برکــــــته شوه خـــــراب کـــه دې په یاد وي

لکهاو شهيـــــدان او يتـــــيمان شـول په وطن کې
د خپله کردو وايـــې په ځـــــواب که دې په یاد وي

تا را وســـــته فوجــــــونه د روســـــــانو خپـل بقا ته
وطن يې کــــړه تالا لـــکه سېلاب کـــه دې په یاد وي

دينـــداره وطنـــوال مـــو د ټانګو لانـــدې غوبل شول
چې هېڅ يې نه و کړی بــې ثواب کـــــه دې په یاد وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن شــو جهـــنم پـــه وطنـــوالو ســــــتا د لاسه
څه لاړه پاکستان ته څـــه کـــــولاب که دې په یاد وي

واک او صلاحـــــیت د وروســــــانو شـــو په لاس کې
هغه چې، نه یې دیــــن و، نه کـــتاب که دې په یاد وي

تا ویلې چـــې رژیـــم مو تـــر قیامت ده پایېــــدونکي
باطل نظـــام دې و لـــکه حبـــاب که دې په یـــاد وي

پښتو مــــتل ده وایــــي چې په زور کلـــی نه کېـــږي
نو ځـــکه چې ونه شـــوې کامیـــاب که دې په یاد وي

ظالــمه! هـــا ظلـــمونه چې تـــا وکـــــړه په دې خاوره
الله به وکـــړي تا ســــره حســـاب که دې په یـــاد وي

صـوفي، حاجـــي، مـــلا خو ســـتا کلکه دښمـــنان وو
چـــــې واړه دې کړه لانـــدې د تـــراب که دې په یاد وي

سوچه مسلـــمانان دې د اســـــلام په تور بنـــدي کړل
تر اوســـه لادرکـــه دي نایـــاب کــــه دې په یـــاد وي

مغـــرور وې کبـــرجنه د هېـــــچا پـــــــروا دې نه و
چې څښـــله دې بندي مخـــکې شراب که دې په یاد وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نانزکه د دښــمن وې خپـــل وطـــن دې کړو برباده!
کورونـــه دې هـــوار لکه ســـراب کــه دې په یــاد وي

دا زما لیـــدلی حـــال و چې مـــې ولیـــکه یارانو
په یـــادول یـــې کیـــږمه بیـــتاب کـه دې په یـــاد وي

وطن خراب ویجـــاړ شو له بنســـته قلمـــــــــــدوسته
که نه چـــې لـــکه ګل و د ګـــلاب که دې په یـــاد وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

پر ما یې خیال نښته بې حـده زوروه ده
څه وکـړم چـاره څه ده زما نه مـروره ده
په عاشقـــۍ کې به کړېږې
په شان د شمعې به ویلېږې
دیدن که ونه شي بېلتون یې خوندوره ده
څه وکړم چاره څـه ده زمـــا نه مـروره ده
ډېره حســـینه ده بې باکه
د زړه په وړلو کې چـالاکه
لا خو وړه ده که نه ډېره میـــــنه وره ده
څه وکړم چاره څه ده زما نه مـــروره ده
زه مزدوري به یې د پلار کړم
دا خپله حق به ورنه ځار کړم
ما سره نه غږېږي ډېره غوســـــه وره ده
څه وکړم چاره څـه ده زما نه مروره ده
د جنکیـــو ښاپـــېرۍ ده
او د خوبانو شهزادګۍ ده
ډېره نیازبینه د مـــــورجانـې بختوره ده
څه وکړم چاره څه ده زمـــا نه مروره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشر رنګ يې لکه ګل دی
خوږه وينا يــې د بلبل دی
چې روانېږي ته به وايې چې کوتره ده
څه وکړم چاره څـه ده زما نه مروره ده
ډېره زيرکه ده هوښياره
ښه مسلمانه ده دينداره
د قلمـــدوست په طبعه ډېره برابره ده
څه وکـړم چاره څه ده زما نه مروره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوی فلسفي شاعر «غني خان» شعر نه په الهام سره!

**دنیاوالو! کوي واړه دنیا سره خبرې**
**تاجر د زمانې کوي سودا سره خبرې**

**میین کوي په خیال کې د اشنا سره خبرې**
**مخمور کوي هر کله د مینا سره خبرې**

**(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)**
**بهار د هر انسان کوي خزان سره خبرې**

**اهونه د مظلوم کوي توپان سره خبرې**
**مجنون کوي په مینه بیابان سره خبرې**

**کاندي هر لیونی د خپله ځان سره خبرې**
**(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)**

**محبوبه کړي عاشق ته په قرار سره خبرې**
**شهید د وطن کاندي د مزار سره خبرې**

**په حق باندې منصور کوي د دار سره خبرې**
**عادل به خامخا کوي غدار سره خبرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)

***

سترګې د اشـــنا کـــوي بادام ســـره خبرې
کارونه د هر چا کـــوي انجـــام ســـره خبرې

ژوندون د هر انسان کـوي ایام ســـره خبرې
شعرونه د شـــاعر کـــوي الهام ســـره خبرې

(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)
هر څوک کـــوي په خپله استدلال سره خبرې

موسم د پســـرلي کـــوي نهـــال سره خبرې
خاین به خامـــخا کـــوي وبال ســـره خبرې

تعصب د ژبې کانـدي استـــقلال سره خبرې
(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)

پاچا کوي د تخـــت او د نګـــین سره خبرې
غمجن کوي هر کـــله د غمیـــن سره خبرې

دنیاوالو پوزېښـــن و پوستـــین سره خبرې
ما کړی قلمـــدوسته په یقیـــن ســـره خبرې
(خو یو ته یې چې ته نه کوې زما سره خبرې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که رښتيا وايـمه سر به مـې په دار شي
که چـوپ کېـنمه زړګی مې ناقرار شي

ځيـــنې خلک په رښتيا باندې خپه شي
نو حـيران يمه چې څنګه به اظهار شي

دنـــيا ډک دی د غمـــونو عزيـــزانو
هغه پوه ده چې دنيا ځينې بېزار شـي

تر پرون خو دې بايـــسکل نه و زړګـــيه
دا دولت دې کړه له کومه بيا په قار شي

حکومت دی خـوبـولـی کـــار دې وکړه
نو طالع او بخـت چې کله بـه بيدار شي

وطنوال مـو د بهـــر بنـــدي خـــانو کې
څه بلا غواړي وطن کـې که يـې کار شي

خـانـان واړه يـــو تـــر بلـه ســـره پـالـي
خو غريب سړی د دوی د سـترګو خار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړګلوي خو بيخي نشــته ده په موږ کې
ورونه يو بل ته بـيا زيږ لـکه ښــامار شي

که يې ګټــه وي د حـــق پــه طــرف اوړي
په تاوان کـــې بيا د حق ځـينې انکار شي

ناريـــــنه واړه د ښـــځې غلامـــــان شـــول
يو په سلو که خـادم د مـــور او پلار شـــي

چا ويل چې پـــــوخ کـــورونه نه جـوړيږي
د معـــاشه مـــا ليــــدلی چې هـــــزار شي

دلته هر څه چې کړې، وکړه قلمـــــــدوسته
نر هغه دی چې بـــيا هلته په ګفـــــتار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دنیا مخکې ده روانــه مــوږ د شـا په لـور روان یوو
هغوی زموږ په شان دي مونږه هم د دوی په شان یوو

ورک یـــوو په دغـــه کې چې د فلانکي بابا لمسی یم
قومونه مختـــلف یـــوو خـــو یو بل ســـره وران یوو

رحم او شفقـــت د سره نشـــته ده پـــه مـــوږ کې
د ورور په دښمـني کـــې ځکـــه واړه باتـــوران یوو

دنیـــاوالو سپـــوږمی ته له کـــماله رسېـــدلي
مشــــران مو وو خایـــن که نه همزولی د جاپان یوو

ابـــادي د وطـــــن په اجتــــماع کېـــږي یـــارانو
د تورې خاوندان یوو، خـــو یو بل ته بدگـــــومان یوو

تر څو چې نه شو یو مـــوټی دلداره قلمــــــــدوسته
همدغســـې بې وسه خـــوار او زار به په جهـــان یوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په غم کـــې د وطــن يــمه انــګار سره تړلی
احساس مې داسـې وي لکه ښــامار سره تړلی

چې وينمه د ســترګو نه مـې وينـــې را بهېږي
چبې د خـــزاني چـــې وي غـــدار سره تړلی

وطن د ابــادي د پـــاره يـو هـم نـه را درومي
هر يو چـــــې دی راغلـــی د ازار ســـــره تړلی

وطن مو کړه بربـــاد په ځان ځاني او تنبلي کې
ډېر کم به شي پيـــدا چې وي د کار ســـره تړلی

هغه نه مې قربان کړې چې خادم د خپل وطن وي
لعــــنت شه په هــغه چې وي اغــيار ســره تړلی

د کـاره غـــورځېدلی يــم کونجکه مې شوه برخه
خوښ يـــمه قلمدوســـته د اشـــعار ســره تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګی مـــې رانه ورکه ده د چا سره به وي
بلد نــه و بـل چا ســره د تا ســــره به وي

خوښــــي وه ترېنه پاتې سرګردانه ګرځېدله
بې تابـــه يار غمو کې د سودا ســره به وي

ناروغـــو ته دوا او طبيـــــبانو سره شته ده
زمـــــا د زړه دوا د مســيحا ســــره به وي

ډېر لرې پسې مه ګرځه که يار غواړې زړګيه
فېسبوک کې ميـــلاوېږي خو جفا سره به وي

وختونه په عشـــرت کې تېـــروه زما دلبره
غمـــونه د دنـــــيا واړه زمـــا سره به وي

چې راغللې دنيا ته قلمدوســــــته ژړېدلې
بيا تګ دې هم دغســـې د ژړا ســــره به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زوی چې د پلاره مـرور شـــي سړی څـــه ووايي
سبا بېګاه ورتـــه ببـــــر شـــي سـړی څـــــه ووايي

په امېدو چـــــې وي لوی کړی په اخر کې ځينې
بيا مور او پـــلار ته درد ســـر شي سړی څه ووايي

د ولس ميندې خپـــــل عورته بانـــــدې نه بدلوي
ورته خـواږه لکه شـــکر شـــي ســـــــړی څه ووايي

نه ماشومان يې په خوله کېږي نـه يې انړندې مني
وخت يې ترخه لکـــه د زهر شـــــي سړی څه ووايي

د زوی له کوره چـــې مجبور شـــې نو په ډکو سترګو
په بې وسی کې چې بهـــــر شـــــي سړی څه ووايي

چې خپل پردي شي قلمدوسته بيا به چېرته لاړ شي
چې عاشـــــورا ورته اخـــــتر شي ســـــړی څه ووايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مستزاد

گوزاره سخـــته ده وطن کــې سړی چېرته لاړ شي
مگر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي
مشران یو بل سره په جنگ دي
واړه غوښتـونکي د اورنگ دي
خلـک د دوی د لاسه تنگ دي
زمونږه سا نشـــته بدن کې ســــړی چېرته لاړ شي
مگر چې پټ شي په کفن کې سـړی چېرته لاړ شي
درس او تعلیم نشته مکتب کې
شاگرد ناکـــام وي په ادب کې
د مور ســـره وي په غضب کې
فېسبوک سره وي په فتـن کې سړی چېرته لاړ شي
مگر چې پټ شي په کفـن کې سړی چېرته لاړ شي
ټول وطنــــوال مو پرېشان دي
د جنگ سره لاس او گرېوان دي
واړه وطـــن نه گـــــرېزان دي
جامه یې نشته ده په تن کې ســړی چېرته لاړ شي
مگر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول باتوران مو شهیدان شول
کورونه ډک د یتـــیمان شول
مشران مو واړه غاصبان شول
خوندونه نشته په چمن کې ســـړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي
دا پوډریان هم انسانان دي
ښارونه ډک د سایـــلان دي
بې کفایته مو مشـــران دي
ډېره سوکه ده په ګفتن کې ســـړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي
چې کور کهول یې ورته اور شي
چې خپل اولاد ورته تـربور شي
چې وي بې تابه او رنځـور شي
چې وخت تېر نه شي په مسکن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفـــن کې ســـړی چېرته لاړ شي
ننګ او غیرت مو ولې ورک شو
ها اسلامیت مـــو ولې ورک شو
شمله او پت مـــو ولې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازاري ښځې شوې فېشن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي
یو کال مامور د یو دفتر شي
مالک د کور او د موټر شي
واړه چوپړ یې په نوکر شي
ډالر چې راوړي په لمـن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفن کې سړی چېرته لاړ شي
کوم چې وطـــن سره جـــفا کړه
د وطن مـال یې چـــــور تالا کړه
چې خپل ژوندون یې ښه هوسا کړه
ژوند تېروي اوس په لندن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفـن کې سړی چېرته لاړ شي
ګورئ! ظالـــــم مو امران دي
ډېره زړه سخـــته بـــدایان دي
پر مونږه ښځـې حاکـــمان دي
دې نه چې ښخ وي په مدفن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفـــن کې سړی چېرته لاړ شي
هغوی چې پـــوه او صادقان دي
ډېر په بد حـــال او په خپګان دي
د خپل ژوندون پورې حیران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تل مدام وي په محن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفـن کې سړی چېرته لاړ شي
په قلمدوســت وختونه تېر شو
د قیامـــــــت ورځ یې هېر شو
اوس خو مرګی ورنه چاپېر شو
که ور په یاد شي ځنګدن کې سړی چېرته لاړ شي
مګر چې پټ شي په کفـن کې سړی چېرته لاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ما درته مخــکې وو ویــلې خو تا نه منله
چې نازېــدې زړګیه هغه باندې غل وخته

هغه په لاس چې مې اشنا ته پیغامونه لېږه
له بده بخـته د اغــیارو ســره مــل وخته

د مالګې قـدر پـاتې کېږي نه د هېچا سره
هغه چې تا صـفت کاوه ګوره په چل وخته

ما چې کلونه په هغه باندې خواري کړې و
نورو ته خــوږ لکه عسل ما ته حنظل وخته

پیسو لپــــاره تر لنــــدنه سفـــرونه کوي
لمانځه لپاره تر جومـــاته پـورې شل وخته

چې مې د زړه په کور ساتله قلمدوسته ګوره
زما د مــرګ لپاره څنــــګه په مورچل وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا په خاطر مې يو کتاب ليکلی
څه مې په ويښه څه په خواب ليکلی

د اننګو نه تر ښنو پورې دې
جدا جدا مې فصل و باب ليکلی

ياد يې پخير وي د ځوانۍ وختونه
د تېر وختو مې د شباب ليکلی

چې ښه ولګي د اشنا په طبعه
په اهنګو مې د رباب ليکلی

سترګې کمزورې شوې لاسونه رېږدي
دا مې څو بيته په عذاب ليکلی

خو مه يې ليکه قلمدوسته کنه!
د رقيبانو مې ځواب ليکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسي هینداره

ولس د تباهۍ په لـــور روان دي خـــدایه خیر
وختونه چې تېرېـــږي په تاوان دي خـدای خیر

په هر څه باندې ویـنه د انسان ډېر قیـــمتي وه
اوس هغه هم د بوســـو نه ارزان دي خـدایه خیر

د تا په کور کـــــې څو رنګـــه خواړه پخول کېږي
ګاونډ دې وچ ډوډۍ پورې حیران دي خدایه خیر

انسان ته امنیت چې لـــوی نعـــمت دی د الله نه
چې نشته امن خلـــک پرېـــشان دي خدایه خیر

لري دوه مخـــــونه چې هر څوک دي په نړۍ کې
یو مخ د تا په لـــوري بل پنـــــهان دي خدای خیر

شریعت کې دوې ښـــځې یو ســـړي ته برابر شي
عجیبه ده چې ښځـــــې قاضـــیان دي خدایه خیر

ولس خوراکی قـــتل په جګـــړو شول بې مفهومه
کورونه کوڅې ډک د یتـــیمان دي خـــدای خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران او د خانان زامن، ډاکـټر او ماسـټران شول
چې مري واړه کم بخته غريــبان دي خــداى خير

سړي په ښځو بانــــدې قاعــــدان دي خلق شوي
پر مونږه باندې ښــــځې حاکـمان دي خداى خير

هر څوک چې دې وطـــن ســره جـــفا کوي يوازې
د زړه وينه خـــــوراک د شاعــران دي خداى خير

وړوکي کســــان ناســت دي د مشــرانو په مقام کې
واکدار ددې وطــن چې ماشــومان دي خــداى خير

بې چاره قلمدوست چې خپل ژوندون پورې حيران دى
لا هــم ور باندې خلــک بد ګــومان دي خــدايه خير

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وطن ګلستان

يادېـــږي دې وطــنه ګلســـتان وې په نړۍ
زانګـــو د مېـــړنو قهـــرمـانـــان وې په نـړۍ

هغه چې سومنات يې د اسلام په برۍ مات کړه
ټاټوبی د محمود غــــوندې شاهان وې په نړۍ

تش لاس سره انګــــرېز دې وشــړلی له لمنه
خاوند د لوی غيـرت او د ايـــمان وې په نړۍ

په بدو سترګو هېڅوک درته بد کتلی نه شوای
مدفن د زورګيـــران او غاصـــبان وې په نړۍ

سقراط او اپلاتـــون که په بهـر کې عالمان نوو
ته مور د مــــولانا غــوندې بچيان وې په نړۍ

دوستانو ته خــــوږه وې او پسـته لکه اوبه وې
غلـيم ته لکـه تـندر د اســـمان وې په نـړۍ

بېټک په ټول جهان کې د مېـــلمه د پاره نشته
يـوازې مېلـــمه پـالـه مهـــربان وې پـه نـړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسـونه د عـبرت دې فرعـونـانــو ته ښـودلي
سبـب د تبـــاهۍ د وروســـان وې پـه نـــړۍ

مشران دې خاينان وو چې تر اوسه يې بې وسه
که نه چـــې ته همــزولی د جـاپان وې په نړۍ

ديني تعلـيم چې تا ته کـوي دا عجيبه کار دی
د هنـــد او پاکه مخـکې مسلــــمان وې په نړۍ

دا ســتا د ابــادۍ فکــر مشـــرانو سره نه وو
که نه چې ته خـاوند د ښـه پـــوهان وې په نړۍ

نو څومره صفـــتونه چې ستا وکړي قلمـدوسته
زرها کــــرته مخــــکې د بــــيان وې په نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



#ديني وصيت

د جــهل په ظلـــمت کې چراغــــونه عالمان
ګلشن کې د توحيــــد واړه قـــراء دي بلبلان

په دين چې کــومه امر او يا نهـــې ده ليکلې
عالم دی په هغــه بانـــدې د نــــورو ترجمان

مقام يې دومره جـيګ دی تر عابد او د ذاهده
خوبــــونه د عالـــم او عـــبادت د عابـــدان

چې مخ ته يې کــــتل په عبادت کې حسابېږي
د علـــم برکــــت ده د الله ورتـــه احـــسان

عادي ســـــړی که مړ شي خپلوان ورپسې ژاړي
عالم پســـې به وژاړي دا ځمــــکه و اســـمان

نور خلک په محشر کې به په غم د خپله ځان وي
عالـم به شـــفاعت وکـــړي د ډېــــرو مجرمان

په خپـــله عالـــم نه يـــمه خـادم د علـــماء يم
د دوی له برکـــته کـه مـــې وبــښي سبـــحان

مخ توری قلمـــدوست درته ای ربه خجـــالت يم
معاف مې کـــړه خـــاونده له عـــــذابه د نيران

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مدينه

وربېږي رحمـــتونه د الله پـه مديـــنه
قبلېږي دعـاګانـې د هـر چـا په مديـنه

محشـر کې به ونه ژاړي چې کړی ندامت وي
توبـې ور سـره کـړې وي ژړا په مديـنه

هر څوک چې ورته ور شي بېنوا نه پاتې کېږي
غمخـور د ټول امـت دی پادشـا په مدينه

چې تېـر د مور او پلاره شول خپل امت د پاره
رحمـت د عالـم فخـر د بـابـا په مديـنه

عاصي د سلو کالـو چې دربار لـره يې ورشي
ماشوم غونـدې شي پاکه بې ګـنا په مدينه

اخلاص سره که ورشي مدينې ته قلمـدوسته
مطلوب به دې حاصـل شي خامخـا پـه مدينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاچا غونډې وي

هغه چې یــار او مور و پلار لــري پـاچـا غـونډې وي
چې څنګ کې ښه زوی خدمتګار لري پاچا غونډې وي

تر اوسـه پـــورې په دنـــیا بانـــدې څوک نه دي ماړه
چې د مـاښـام او د ســـهار لـري پـاچـا غـونـدې وي

څوک چې نه اړ وي نه مخـدوم وي نه خادم وي د چا
چې اسوده شانتې روزګـــار لـري پـاچـا غـونـدې وي

چې نه رشوت خــوري نه ضـرر رسوي خلکـــو ته بس
نو چې حـــلاله کار و بار لـــري پـاچـا غـــونډې وي

پاچـا په زوره حکـــومت کــوي په خلکـــو بانـــدې
څوک چې عزت لــــري، وقار لري پـاچـا غـونـدې وي

د پـاچـاهـي عمـــر خو کــم ده لکــه باد تیـــرېږي
چې قلمدوست غــونډې اشــعار لري پاچا غونډې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مستزاد

وطنه لاړ شو کوم وطن ته چې امنيت وي هلته
اخ و ډب نه وي يو د بل سـره الفـت وي هلته
بې غـمه ګرځـي قاتلان
د هـره قيـده په امـان
حامي يې وي يو قوماندان
لاړ شو يو ځای ته چې احکام د شريعت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـو د بـل سـره الفـت وي هلته
دلته هر يـو چې وينې غل دی
تر لاس رسی پورې معطل دی
اور د نفـاق په موږ کې بل دی
که خدای وکړي چې بېـداره حکومت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـو د بل سـره الفـت وي هلته
د چرس پوډر ګرم بازار دی
دلته خو ورکه کار و بار دی
خلـک د لـوږې په فرار دی
ور درومي هلـته که يـو څه معيـشيت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـو د بـل سره الفـت وي هلته
ارامي نشـــته په وطن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک روان دي په فتـــن کې
زندګي غواړي په لنـــدن کې
دين پسې نه ګرځي يو څه غونډې راحت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بل ســـره الفـــت وي هلته
زامن پلـــــرونو ته تـــوربور دی
په خپل ځواني پورې مغرور دی
خوارکي پـــلار ورتـــه مجبور دی
هلتــه چې قدر د مشـــران وي اطاعـــت وي هلته
اخ و ډب نـه وي يو د بـل ســـره الفـــت وي هلته
شـــته دې واړه چور تالا شوه
څه په تـــياره څه په رڼا شوه
چې له طـــرفه د هر چا شوه
نه زورور وي نه مظلـــوم وي صـــداقت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بل ســـره الفـــت وي هلته
دومره دولت له کومه کېږي
په کمپايـــنونو چـــې لګېږي
يا مارکېټونه چـــې جوړېږي
لاړ شو يو ځای چـــې نه رشوت نه خيانت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بل ســـره الفـــت وي هلته
ډک وي د ښـــځو نـــه بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره کوڅــه کــې بې شمار
عاشــقان وژنــي په زار زار
لاړ شو چې لږ څه غونډې پت وي او غيرت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بل ســـره الفـــت وي هلته
کوڅې کړې بنـدې کـثافاتو
ښاروال ويـــده ده په خيالاتو
نو مسوول څـوک ده د حالاتو
لاړ شو يو ځای ته چې بوی نه وي نظافت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بـــل ســـره الـفت وي هلته
پوهه تعلـيم مو اسماني شوه
ټول د جـنګونو قرباني شوه
په ملک خـپوره ناداني شوه
که مو نصيب وي چې لـــږ پـــوهه معـرفت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بـل ســره الفــت وي هلته
دو ځلوېښت کاله کېږي جنګ دی
ټـــول پلانـــونه د فـــرنګ دی
کال چــې تېرېږي په بل رنګ دی
نه جـــنازې وي د ځـــوانان نه مصـــيبت وي هلته
اخ و ډب نه وي يـــو د بل سره الفــــت وي هلته
پرهار پرهار شـولې وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مزار مزار شــولې وطنه**

**ډېر ناقرار شــولې وطنه**

**د قلمـــــدوست سره به څو چې عدالت وي هلته**

**اخ و ډېب نه وي يـــو د بل ســـره الفت وي هلته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

داسې نه ده چې تمـــام عمر به خاندې
دا خنـــدا به درتـــه زړی د ژړا شـــي

څوک چې ډېر خاندي مستې کې عزيزانو
خپل خنـــدا ورتـه فـوجـونه د بلا شــي

د دنــيا په راشـــه درشـــه مـه نـازېږه
تـر پــــرونـه و پــاچـا ســـــبا ګدا شي

و هر چـــا ته خپل عــمل د لارې مل دی
چې هر څـــــه دې وي کـرلی درته ها شي

په هېڅا بانـــدې زياتـــي مه کوه ګـــوره
کلـــه وار د ادې کلـــــه د ابـــا شـــــي

خاين هر څومره چې پـــټ کړي خيانتونه
بيا يې وګوره مخ تــــوری وی رســوا شي

په دنـــيا پـوري زړه مـــــه تــړه دلبره
ژرنده ګرې هم کېدای شـــي چې پاچا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـد مــرض دی ځان ځانــي او نفاق ورونو
په هر مـلک چې دا مــرض ګډ شي تبا شي

چې فاســد ده حکــــــومت شریعت نشته
نو په هـر ځــای کې قتــــلونه بر آلا شي

بې رشوته هیــڅ کار نه کیـــږي دولت کې
دا تورتـــم بــه پـه افغـــان کلـه رڼـا شي

یو دوه کالـه چـې مـامـور د یو دفـــتر وي
بیا خاونـــد د مــارکیـــټو او کـــرولا شي

د وطـــن به غــم نـــږدې ده لیـــونی شې
قلمــــــدوست به فارغ کله د ســـودا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ته څه پوهېږې جـدايي کې څه پر ما تېـــرېږي
شپې مې واړه تر ســـهاره پـــه ژړا تېـــرېږي

زه يې په غم کې تر ســـــهاره تېـــروم په ويښه
رقيب سره زمـــا د قصــــــده په خـــــندا تېرېږي

يوه خولګۍ باندې چــې راکړله خپه غوندې شوه
سړی چې ميـــــنه کـوي خــود به د دنيا تېرېږي

کله به غم وي په سړي کلـه خـــــوشحاله ګرځي
څوک دې دا نه وايي پر ما ده پـه هر چا تېرېږي

وخت د اوبو په شان روان دی خپل مزل په لورې
چا تـــه ثواب شـــي په چـا بانـدې په ګنا تېرېږي

چا ته څو رنګه خوراکـــونه وي پـــه مخکې ايښې
په چـــا تـــش لاس په امېـــدونو د ســـبا تېرېږي

څـــوک تر ســـهاره په نشــه کې د شرابو ډوب وي
په چا تمامه شـــپه لاســـونه په دعـــا تېـــرېـــږي

د دنيا ژوند دې غلـــط نه کـړي قلمـــدوسته ګوره
څنګه چې تېر شو په عالم داســـې پر تـا تېـــرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

رقیـــب ورته جــوړ کړی دسیـــسه ده په دروغو
چې ورځ په ورځ کمـــېږي اعتـــبار د قلمدوست

خیر دی چې اوس زوړ شوی په لکړه باندې ګرځي
ځـــوانۍ کې ما لیـــدلی و رفتـــار د قلمدوست

دوستان تښتي پیـــري او بې وسۍ کې له هر چا نه
که نه چې مخکې جـــوړ و ښه بنـــډار د قلمدوست

یاران ورنه چاپېر لګـه مـــچان وو پـــه هستۍ کې
اوس وینمه ســـوړ شـــــوی دی بازار د قلمدوست

هر زخـــم تـــه دوا د طبیـــبانو ســـره شـــته ده
میـلاو نه شـــو دوا د زړه پـــرهار د قلمـــدوست

که ښه را سره کړې دغه یې وخـــت دی که پوهېږې
بیا مـــه لګوه شمـــعې په مـــزار د قلمـــدوست

مسکن مې شوه کونجکه د نصیـــب سره په جنګ یم
شپې داســـــې تېـــرېږي تر ســـهار د قلمدوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل چې بــــوډاتوب کـــې لږ بې غمه اسوده شم
کم نه شـــــو د اوږو نه کلـــه بار د قلمـــــدوست

زمانـه بــــې وفا ده او یـاران یـې مطلـــبي دي
یو نه شــــو د الله لـــپاره یــار د قلمــــــدوست

هـغه د زړه له حـــاله څه پوهېــــږي نا لیـــدلی
یا دا چې به لوســــتلی وي اشــعار د قلـمدوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

د ډېره خوشحالي نه په جــامو کــې نه ځايېدم
ديـــدن وعـــــده دې کـــړی و جـانـانـه بـرايي

پوه نه شوم چې غفلت و که دې هېر کړمه دلبره
تېر شو ما بانـــدې سخـــته بې لـه تـا نـه برايي

زړګی مې تر ســـــهاره کـــړېده درپـــــسې ياره
د زړه دنــــيا مې و درپـــــسې ورانه بـــــرايي

لاره مـــې در څارله تر ســــهاره خـــو رانغلې
اسوېــلې مــــې خـــــتله تر اســـــمانه برايي

تنګ شو را بانــــدې کور او کلي ووتم بېديا ته
طاقت او صبـــــر تللی و لـه مـا نـه بــــــرايي

لښکر دې د غمونو چـــــې راغلـــی وو تنها وم
کاش! تلمه قلمـــدوست سره ای ګـــرانه برايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادښت:**

ددې کتاب لیکل شوي شعرونه د «جمهوریت» دورې تر پایه ویل شوي دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**